# په افغانستان کې

# د رسنيو آزادي

نومبر ۲۰۲۴

د بشري حقونو لپاره د ملګرو
ملتونو د عالی کمیشنر دفتر

په افغانستان کې
د ملګرو ملتونو مرستندويه پلاوی

## لړلیک


**د دې راپور په هکله** ........ ۲
**د راپور لنډیز** ........ ۳
**شالید** ........ ۶
**میتودولوژي** ........ ۷
**د بشري حقونو نړیوال قانون** ........ ۷
**کورنی حقوقي چوکاټ** ........ ۸
**د *برحاله* چارواکو تر حاکمیت لاندې رسنیز بنسټونه** ........ ۹
*برحاله وزارتونه* ........ ۹
*د رسنیزو سرغړونو د څېړنو کمیسیون* ........ ۹
*ولایتي کمېټې* ........ ۱۰
*د رسنیو ملاتړ* ........ ۱۰
**د معلوماتو د لټولو، ترلاسه کولو او شریکولو حق** ........ ۱۱
*د رسنیو سانسورول او ځان- سانسورول* ........ ۱۱
*د خبریالانو او رسنیو د کارکوونکو خپل سري نیول او توقیف او ګواښونه* ........ ۱۳
*د رسنیو په چارو کې لاسوهنه* ........ ۱۴
*له افغانستان نه بهر فعالې رسنۍ* ........ ۱۶
*اطلاعاتو ته لاسرسی* ........ ۱۷
*د ښځو وضعیت چې رسنیو په سکتور کې کار کوي* ........ ۱۸
**پایله** ........ ۲۰
**وړاندیزونه** ........ ۲۱
**ضمیمه: نظریات د *برحاله* چارواکو له خوا وړاندې شوي دي** ........ ۲۲

## د دې راپور په هکله

دا راپور د افغانستان د خلکو د بشري حقونو د اندېښنې وړ اوسنیو ستونزو په هکله د یو لړ هغو موضوعي څېړنو برخه ده، چې د ملګرو ملتونو امنیت شورا د ۲۶۲۶ ګڼه (۲۰۲۲) پرېکړه لیک په چوکاټ کې، چې په دې وروستیو کې د ۲۷۲۷ ګڼه (۲۰۲۴) پرېکړه لیک له لارې تمدید شو، په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوي (یوناما) د بشري حقونو څانګې لخوا ترسره شوې دي. د ۲۶۲۶ ګڼه پرېکړه لیک په اساس یوناما دنده لري چې «په ملي او ځايي کچه له مدني ټولنو او نړیوالو غیر دولتي مؤسسسو سره د ټولو افغانانو د بشري حقونو د خوندیتوب او ښه والي په برخه کې له ټولو لوریو سره تعامل وکړي،» او «د ملکیانو وضعیت او د تاوتریخوالي مخنیوی او له منځه وړل وڅاري، په هکله یې راپور ورکړي او له حقونو څخه یې دفاع وکړي.»[1] د دې تعامل د یوې برخې په توګه، په افغانستان کې *برحاله* چارواکو ته بلنه ورکړل شوې وه چې د دې راپور د محتوا په هکله حقیقي نظریات وړاندې کړي چې د دوی ځواب هم له دې راپور سره مل دی.

---

[1] د ملګرو ملتونو امنیت شورا ۲۶۲۶ ګڼه پرېکړه لیک، ۵ فقره (هـ).

## د راپور لنډیز

آزادې رسنۍ د بیان ازادۍ حق لپاره اړینې دي ځکه رسنۍ پر وخت د معلوماتو خپرولو، د عامه بحثونو په لاره اچولو او حساب ورکونې  د پیاوړې  کولو زمینه برابروي.[۲] د بیان ازادۍ حق د مدني او سیاسي حقونو نړیوال میثاق (ICCPR) د ۱۹ مادې پر بنسټ تضمین شوی دی. افغانستان د یاد تړون د غړي هېواد په توګه د بشر حقونو ښه والي، خوندیتوب او سرته رسولو مسؤلیت لري او باید ډاډ ورکړي چې ټول افراد، د ژورنالیستانو په ګډون، کولای شي د بیان ازادۍ حق څخه ګټه پورته کړي. په دې کې د یو داسې چاپیریال رامنځته کول، چې هلته د رسنیو سکتور وکولای شي په خوندیتوب او خپلواکۍ سره خپلې چارې پرمخ یوسي، او همدارنګه د رسنیو پر کار کوونکو د بریدونو عاملینو سره حساب کول شامل دي. دا راپور د ۲۰۲۱ کال اګست ۱۵ نېټې څخه تر ۲۰۲۴ کال د سپتمبر میاشتې ۳۰ نېټې پورې په افغانستان کې د رسنیو د آزادۍ وضعیت ارزوي.

د افغانستان اسلامي جمهوري حکومت په چوکاټ کې د رسنیو سکتور په خورا چټکۍ سره په هیواد کې وده وکړه چې له کبله یې رسنیزو پلټفورمونو پراختیا ومونده او د خبرونو او معلوماتو بیلابیلو کورنیو سرچینو ته لاسرسی کې د پام وړ زیاتوالی راغی. په هر حال، د ۲۰۲۱ کال د اګست له ۱۵ وروسته زیات شمېر رسنیو خپل فعالیتونه ودرول. دې موضوع بیلابیل عوامل درلودل، لکه د هېواد د عمومي اقتصادي ستونزو له امله د عوایدو کموالی، واک ته د طالبانو له رسېدو وروسته د بسپنه ورکوونکو لخوا مرستې نه کول، بهر ته د ژورنالیستانو تلل، او همدارنګه د *برحاله* چارواکو لخوا د یو لړ بندیزونو لګول. *برحاله* چارواکو رسنیو ته د ننګونو ډک کاري چاپیریال رامنځته کړی، چې سانسور کول او معلوماتو ته لاسرسي کې ستونزې په کې شاملې دی خو په دې پورې محدودې نه دي. سربېره پر دې، خبریالان او د رسنیو کارکوونکي د خپلو چارو په ترسره کولو کې له تهدید، خپل سري نیونو او توقیف، ناسم چلند، محاکمه کولو او بندي کېدو سره مخ کېږي.

د *برحاله* چارواکو اقدامات په خپرېدونکو محتویاتو او د رسنیو په داخلي چارو کې مداخله ده، او د رسنیو آزادۍ کې یې د پام وړ کموالی راوستی دی. د ۲۰۲۱ کال د اګست ۱۵ نېټې څخه تر ۲۰۲۴ سپتمبر میاشتې ۳۰ نېټې پورې د یوناما د بشري حقونو څانګې د بشري حقونو څخه د سرغړونې ۳۳۶ پېښې چې ژورنالستان او د رسنیو کارکوونکي یې اغېزمن کړي، مستند کړي دي – د هغې جملې څخه د خپل سري نیونو او توقیف ۲۵۶ پېښې (۲۴۹ سړي او ۷ مېرمنې)، د شکنجې او ناسم چلند ۱۳۰ پېښې (۱۲۲ سړي او ۸ مېرمنې) او د ګواښلو او ډارولو ۷۵ پېښې (۶۶ سړي او ۹ میرمنې) دي. د سرغړونو د پېژندلو لپاره د شفافو کړنلارو  نشتون او د *برحاله* چارواکو د منتقدینو تهدیدول، خپل سري نیول او توقیفول د ځان- سانسورولو کلتور رامنځته کړی او د بیان په ازادۍ یې منفي اغېزه کړې ده.

د ۲۰۲۱ کال د سپټمبر په ۱۹ نېټه، د *برحاله* چارواکو «د حکومت د رسنیو او معلوماتو مرکز» رسنیو ته د ۱۱ ټکو لارښود صادر کړ او پکې یې د هغو محتویاتو خپرول منع کړل چې د اسلام او افغان کلتور سره او یا په ټوله کې د ملي ګټو خلاف ګڼل کیږي. له رسنیو څخه ډیری وخت غوښتل کېږي چې د یو راپور د خپرولو څخه مخکې د *برحاله* چارواکو سره همغږي وکړي او د دوی تائیدي ترلاسه کړي، په داسې حال کې چې د خبرونو اجنډاوې له مخکې کتل کېږي، دا کار د سانسور په څېر دی. هر هغه محتوا چې د خپرېدونکو محتویاتو اړوند لارښود څخه سرغړونه وبلل شي، له پراخ او نا څرګند تعبیر تابع کیږي. په هر حال، په حقیقت کې سرغړونې یا هغه څه چې سرغړونې بلل کېږي، د شدیدو مجازاتو سبب ګرځي او د ژورنالستانو ترمنځ د ځان- سانسور پراخېدونکی کلتور رامنځته کوي. لکه څرنګه چې د دې لارښوونو هدف د عامه خبرو اترو لپاره د مجوزو موضوعاتو محدودول او پر *برحاله* چارواکو  نیوکه کوونکو رسنیو ته سزا ورکول دي، دا ډول لارښوونې د مدني او سیاسي حقونو نړیوال میثاق په چوکاټ کې د بیان د آزادۍ محدودولو لپاره د اړینو شرایطو سره برابرې نه دي.

---

[۲] د ملګرو ملتونو لارښود، د ملکي فضاء خوندیتوب او ښه والی، سپټمبر ۲۰۲۰، ۱۱ مخ. د لاسرسي وړ: https://www.ohchr.org/sites/default/files/Documents/Issues/CivicSpace/UN_Guidance_Note.pdf (د ۲۰۲۴ کال د جون په ۳ کتل شوی دی).

رسنۍ په خپلو چارو کې د يو لړ محدوديتو لاندې دي. په دغو محدوديتونو کې د موسيقۍ يا هغو فلمونو خپرولو منع کول شامل دي چې د شريعت خلاف ګڼل کېږي (د هغو په ګډون چې ښځې په کې ښودل کېږي). د رسنيو په دفترونو کې بايد نارينه او ښځينه په جلا کارځايونو کې کار وکړي او د خپرونو نارينه او ښځينه چلوونکي بايد په ګډه په يوه خپرونه کې راښکاره نشي. په ځينو ولايتونو کې ښځې اجازه نلري څو راډيويي خپرونو ته زنګ ووهي، پرته له هغو خپرونو چې د ښځو د روغتيايي او ديني مسايلو اړوند وي. د ۲۰۲۴ کال د آګست په لومړۍ نيټه د امربالمعروف او نهی عن المنکر قانون په خپرېدو سره دا محدوديتونه قانون کې ځای په ځای شو، شته محدوديتونه يې پراخ کړل او نوي محدوديتونه يې رامنځته کړل. نوي محدوديتونه چې په ځانګړي ډول د رسنيو سکتور اړوند دي، د ژونديو موجوداتو د انځورونو جوړولو او ښودلو منعې ته شامل دي، د ښځو غږ اوس محرم ګڼل کيږي او بايد د ښځې د کور څخه بهر وا نه وريدل شي، او موټر چلونکي اجازه نلري هغو ښځو ته ترانسپورتي خدمات وړاندې کړي چې *محرم* (نارينه سرپرست) ورسره نه وي. برسيره پر دې، د دی قانون ۱۷ مه ماده *برحاله* د امربالمعروف او نهي عن المنکر وزارت محتسبينو ته واک ورکوي تر څو ډاډ ترلاسه کړي چې د خپرونو يا عامه اطلاعاتو محتوا د شريعت سره، د *برحاله* چارواکو د تفسير له مخې، برابره ده.

د ۲۰۲۱ کال د اګست له ۱۵ نېټې وروسته، ځينو افغان رسنيو خپلې چارې بهر ته ولېږدولې او له هغه ځايه د افغانستان دننه خپلو ليدونکو او اورېدونکو لپاره خپرونې کوي. دا «په تبعيد کې رسنۍ» يا «ډياسپورا رسنۍ» د *برحاله* چارواکو له خوا داسې انګيرل کيږي چې په غيرقانوني توګه کار کوي، چې په دې توګه دننه په هيواد کې د دغو رسنيو لپاره کار کوونکي خبريالان په ځانګړې توګه د خپل سري نيونو او توقيف له خطر سره مخ کوي. خو سره له دې، د يادو رسنيو فعاليتونه، دې ته په پام سره چې دا رسنۍ په قانوني توګه د افغانستان څخه بهر هيوادونو کې ثبت شوي دي، لا هم دوام لري.

د هغو لارښوونو سربېره چې د رسنيو پر کارکوونکو تطبيقېږي، ښځينه خبريالانې په عام ډول پر مېرمنو د نورو لګول شوو محدوديتونو لکه د *حجاب* فرمان تابع دي او له ۷۸ کيلومتره څخه زيات واټن سفر په صورت کې ملزمې دی چې *محرم* ورسره وي. په ځينو ولايتونو کې په راډيويي خپرونو کې د ښځو غږ منع شوی دی او په بيلابيلو حالاتو کې ښځې د راپور جوړولو سايټونو ته د لاسرسي لپاره بايد اجازت ليک ترلاسه کړي، دا يوه داسې کړنلاره ده چې د نارينه خبريالانو لپاره تل اړينه نه وي. د يوناما د بشري حقونو څانګې رسنيزو کنفرانسونو ته د ښځينه ژورناليستانو د نه رابللو يا په دغو کنفرانسونو کې د ګډون اجازې نه ورکولو بيلګې يادداشت کړې دي. *برحاله* چارواکي په دوامداره توګه د ښځو سره له مرکو کولو ډډه کوي. د امربالمعروف او نهي عن المنکر قانون ښځو ته د رسنيو سکتور کې نورې ننګونې رامنځته کوي، د رسنيو په سکتور باندې د دې قانون بشپړ اغيز به وروسته وليدل شي.

*برحاله* د اطلاعاتو او کلتور وزارت په افغانستان کې پر رسنيزو مسايلو د څار يواځينۍ اداره ده، خو ليدل شوي چې *برحاله* د استخباراتو عمومي رياست او *برحاله* د امر بالمعروف او نهی عن المنکر وزارت هم د رسنيو اړوند مسايلو کې تر ډيره دخيل دي. داسې ويل کېږي چې *برحاله* چارواکو د افغانستان اسلامي جمهوريت په دوران کې د ټولو تصويب شوو قوانينو «د شريعت سره د سمون بياکتنه» پيل کړې ده. د دې راپور تر ليکلو پورې، داسې ويل کېږي چې د رسنيو او اطلاعاتو ته د لاسرسي قوانين د شريعت سره سمون په پار تر بياکتنې لاندې دي. د رسنيزو سرغړونو د څېړنې کميسيون، چې د رسنيو قانون[۳] سره سم د طالبانو تر واکمنيدو د مخه يې شتون درلود، په ۲۰۲۲ کال يې خپلې چارې له سره پيل کړې، چې د بيلابيلو رسنيزو مسايلو لکه د رسنيو ځنډول او د توقيف شوو خبريالانو د قضيو په هکله د *برحاله* چارواکو او رسنيو استازو ترمنځ د بحث د يو پلټفورم په توګه کار کوي. د دې کميسيون دنده دا ده چې د رسنيو لخوا سرغړونې او د رسنيو په خلاف [ثبت شوو] سرغړونو ته رسيدګي

[۳] له ۴۲ مادې څخه تر ۴۴ مادې پورې، د ټوليزو رسنيو قانون تعديل او زياتونه، په رسمي جريده کې خپور شوی، د ګڼې شمېره: ۹۸۶، ۲۰۰۹ د جولای ۶، رسمي جريده، د ګڼې شمېره: ۱۱۶۷.

وکړي. له بلې خوا، اطلاعاتو ته د لاسرسي پخوانی خپلواک کمیسیون اوس د *برحاله* اطلاعاتو او کلتور وزارت تر چتر لاندې په ریاست بدل شوی دی.

د راپورونو له مخې، د ۲۰۲۲ کال په پرتله په ۲۰۲۳ کال کې د رسنیو د نارینه کارمندانو شمېر ۱۰٪ او د رسنیو ښځینه کارمندانو شمېر ۱۷٪زیات شوی دی. په ځینو ولایتونو کې هغه راډیویي سټیشنونه چې د ښځو له خوا اداره کیږي او ښځینه کارمندانې لري، خپل فعالیت ته دوام ورکوي. همدارنګه د ۲۰۲۳ کال راهیسې نویو رسنیو هم په کار پیل کړی دی. دا د *برحاله* چارواکو سره، د کاري چاپیریال اړوند، د رسنیو د سکتور د خبرو اترو دوامدارې هڅې ښيي چې څرنګه د اوسني پیچلي کاري چاپیریال سره ځانونه برابر کړي. سربېره پر دې، داسې ویل کیږي چې *برحاله* وزارتونو او ادارو کې د ویاندویانو په ګمارلو او خبریالانو ته د پېژندنې کارتونو ویشلو په پایله کې، اطلاعاتو ته لاسرسی ښه شوی دی. له دې سره سره، اطلاعاتو ته لاسرسی بیا هم یو ننګوونکی کار دی. پر ښځو بیلابیل لګول شوو محدودیتونو سره، ښځینه خبریالانې او د رسنیو کارکوونکې نشي کولای خپلې چارې په بشپړه توګه ترسره کړي او دا کار د نړیوالو بشري حقونو قانون پر بنسټ د نه تبعیض اصل سره په ټکر کې دی.

***«د مداوم سانسور له امله مونږ د خپلو مخاطبینو یوه برخه د لاسه ورکړه (...) د زمونږ اعتبار د منځه ورېِ. اوس خلک مونږ د یوې طالب پلوی رسنۍ په توګه پېژني.»***

**--د یوې راډیو مدیر**

## شالید

د طالبانو د واکمنۍ پر مهال، له ۱۹۹۶ څخه تر ۲۰۰۱ کال پورې، یواځې یو داخلي راډیويي سټېشن فعال و، چې د طالبانو پیغامونه او دیني پروګرامونه به یې خپرول.[٤] له دې راوروسته کلونو کې د افغانستان اسلامي جمهوریت پر مهال د رسنیو سکتور چټکه وده وکړه. خلک په افغانستان کې دمتکثرو رسنیو سره عادت شول او له رسنیزو محتویاتو څخه استفاده یې زیاته شوه. انټرنېټ او ځیرک ټیلیفونونو ته لاسرسی زیات شو. د افغانستان ۲۰۰۴ کال په اساسي قانون کې د بیان آزادي له تېري څخه خوندي ګڼل کیدله.[٥] خو بیا هم، په یاده موده کې خبریالانو او د رسنیو کارکوونکې په لوړه کچه د جنګ جګړو اړوند تاوتریخوالي[٦] او همدارنګه تهدیدونو، خپل سري توقیف او ناسم چلند له مواردو سره مخ شوي دي.[٧]

د ۲۰۲۱ کال د اګست په ۱۵ واک ته د طالبانو له رسېدو لږ مخکې افغانستان لږ تر لږه ۵۴۳ رسنۍ درلودې، چې شاوخوا ۱۰۷۹۰ کارکوونکو ورسره دندې ترسره کولې. که څه هم، د ۲۰۲۱ کال تر نومبر پورې، ۴۳٪ رسنۍ بندې شوې او یواځې ۴۳۶۰ کارکوونکو په رسنیو کې کار کاوه. د راپورونو پر بنسټ، د رسنیو له ۸۴٪ زیاتو ښځینه کارکوونکو د تحول نه لږ وروسته د رسنیو په سکتور کې خپلې دندې له لاسه ورکړې.[٨] د رسنیو په شمېر کې د دغه ډول چټک کموالی، واک ته د طالبانو له رسېدو وروسته د هېواد د عمومي اقتصادي ستونزو له کبله د عوایدو کموالی او د بسپنه ورکوونکو لخوا مرستې نه کولو په ګډون، مختلف لاملونه لري. د دې ترڅنګ، د *برحاله* چارواکو لخوا یو شمېر لګول شوي محدودیتونه د رسنیو لپاره خورا ننګوونکې کاري فضاء رامنځته کړې. خو له دې ټولو ننګونو سربېره، د ۲۰۲۲ کال په پرتله د ۲۰۲۳ کال تر پای پورې د نارینه خبریالانو په شمېر کې ۴۳٪ او د ښځینه خبریالانو په شمېر کې ۱۷٪ زیاتوالی راغلی دی. همدارنګه د ۲۰۲۳ کال راهیسې نویو رسنیو هم په کار پیل کړی دی.[٩] دا د *برحاله* چارواکو سره، د کاري چاپیریال اړوند، د رسنیو د سکتور د خبرو اترو دوامدارې هڅې ښیي چې څرنګه د اوسني پیچلي او بدلیدونکي کاري چاپیریال سره ځانونه برابر کړي.[١٠]

---

[٤] پیټر کاري، «د خبرونو چاودنه: په افغانستان کې د رسنیو حالت: د نړیوالو رسنیو سره د مرستې مرکز ته یو راپور»، ۲۳ فبروري ۲۰۲۱، د نړیوالو رسنیو سره د مرستې او د ډیموکراسۍ لپاره د ملي وقف مرکز؛ ۸ مخ.

[٥] ۳۴ ماده، «د افغانستان اساسي قانون»، د افغانستان اسلامي جمهوریت، ۲۶ جنوري ۲۰۰۴.

[٦] د سرمنشي راپور ، «د افغانستان وضعیت او په نړیواله سوله او امنیت یې اغېزې» (۲۸ فبروري ۲۰۱۹)، A/۷۳/۷۷۷–S/۲۰۱۹/۱۹۳، ۳۴/۱۰ مخ وګورئ. د لاسرسي وړ: https://unama.unmissions.org/sites/default/files/sg_report_on_afghanistan_۲۸_february_۲۰۱۹.pdf (د ۲۰۲۴ کال د جون په ۳ کتل شوی دی).

[٧] د بشر حقونو شورا دري څلوېښتمې غونډې ته د بشر حقونو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمیشنر راپور له ۲۰۲۰ کال فبروري ۲۴ څخه تر ۲۰ مارچ پورې، «په افغانستان کې د بشري حقونو وضعیت او د بشري حقونو په برخه کې د تخنیکي مرستې لاسته راوړنې» (۱۶ جنوري ۲۰۲۰)، A/HRC/٤٣/٧٤، ۱۱ مخ. د لاسرسي وړ: https://documents.un.org/doc/undoc/gen/g20/010/02/pdf/g2001002.pdf (د ۲۰۲۴ کال د جون په ۳ کتل شوی دی).

[٨] بې پولې خبریالان، «واک ته د طالبانو له رسېدو وروسته، ۴۰٪ افغان رسنۍ تړل شوي، ۸۰٪ ښځینه خبریالانو خپلې دندې له لاسه ورکړې»، ۲۰ ډسمبر ۲۰۲۱. د لاسرسي وړ: https://rsf.org/en/taliban-takeover-٤٠-afghan-media-have-closed-٨٠-women-journalists-have-lost-their-jobs (د ۲۰۲۴ کال د جون په ۳ کتل شوی دی).

[٩] د افغانستان د ژورنالستانو د خوندیتوب کمېټه، «د می ۳ د مطبوعاتو د ازادۍ نړیوالې ورځې په مناسبت د ژورنالستانو د خوندیتوب کمېټې اعلامیه»، ۲می ۲۰۲۴. د لاسرسي وړ: https://safety-committee.org/٩٧١/en-press-release-world-press-freedom-day (د ۲۰۲۴ کال د جون په ۳ کتل شوی دی).
همدارنګه کولای شئ سلام وطندار، «د رسنیو پراخیدل؛ ۲۷ نویو رسنیو په کار پیل وکړ» (۳۰ نومبر ۲۰۲۳) وګورئ. د لاسرسي وړ: https://swn.af/en/٢٠٢٣/١١/media-boom-٢٧-new-outlets-begin-operations/ (د ۲۰۲۴ کال د جون په ۱۰ کتل شوی دی).

[١٠] په افغانستان کې تر ټولو سترې رسنیزې کمپنۍ یا موبي ګروپ مشر، سعد محسنی مقاله ، «نظریه: د طالبانو سره کار کول د هغوی حاکمیت ته مشروعیت نه ورکوي،» واشنګټن پوسټ، ۳۰ آګست ۲۰۲۴. د لاسرسي وړ: https://www.washingtonpost.com/opinions/٢٠٢٤/٠٨/٣٠/afghanistan-women-rights-taliban-engagement/

د بې پولې خبریالانو د مطبوعاتو د ازادۍ شاخص پر بنسټ، په افغانستان کې د رسنیو ازادي په دې وروستیو کلونو کې په شدت سره راکمه شوې ده، د درجه بندۍ له مخې په ۲۰۱۸ کال کې د ۱۸۰ هېوادونو په ډله کې د ۱۱۸ مقام درلودلو په پرتله په ۲۰۲۴ کال کې ۱۷۸ مقام ته راښکته شوې ده.[۱۱] د ۲۰۲۲ کال د نومبر په ۱۸، د مطبوعاتو د ازادۍ په ایتلاف کې د افغانستان غړیتوب له دې امله لغوه شو، چې دې هېواد د مطبوعاتو د ازادۍ په اړه نړیواله ژمنتیا چې د افغانستان اسلامي جمهوري حکومت په ۲۰۲۰ کال کې لاسلیک کړې وه، پوره کړې نه وه.[۱۲]

## میتودولوژي

دا راپور د ۲۰۲۱ کال اګست ۱۵ نېټې څخه تر ۲۰۲۴ سپتمبر میاشتې ۳۰ نېټې پورې په افغانستان کې د رسنیو وضعیت او د رسنیو آزادي ارزوي. په دې راپور کې د بشر حقونو شاملې شوې سرغړونې د یوناما د بشر حقونو څانګې لخوا د هغو سرچینو په حواله تائید شوي دي چې پېښې په اړه يې معلومات لرل او د ورکړل شوو معلوماتو د بشپړوالي په اساس باوري بلل شوي دي. د یوناما د بشر حقونو څانګې په دې راپور کې هغو قضیو ته ځای ندی ورکړی چې سرچینې يې معتبرې او د باور وړ بلل شوې نه دي. دا راپور د معلوماتو د لاسرسي په برخه کې د خنډونو په پام کې نیولو سره د لږ راپور ورکونې احتمال تائیدوي.[۱۳] په ځینو مواردو کې، د پېښو تفصیلات د هغو کسانو د خوندیتوب لپاره لرې شوي چې د سرغړونو راپور يې ورکړی دی.[۱۴]

## د بشري حقونو نړیوال قانون

د بیان ازادۍ حق د بشر حقونو نړیوالې اعلامیې په ۱۹ مادې او د مدني او سیاسي حقونو نړیوال میثاق په ۱۹ ماده کې تسجیل شوی دی. دا درې یو له بل سره تړلي اصول ټاکي: پرته له لاسوهنې د نظر لرلو حق (د نظر ازادي)؛ د معلوماتو د لټولو او ترلاسه کولو حق (اطلاعاتو ته لاسرسی)؛ او د معلوماتو د بیان حق (د بیان ازادي).[۱۵]

افغانستان د بشر حقونو د اووه نړیوالو تړونونو او د دریو اړوندو اختیاري پروتوکولونو غړی هېواد دی.[۱۶] افغانستان د مدني او سیاسي حقونو نړیوال میثاق د غړي هیواد په توګه مسؤلیت لري د هغو افرادو او ژورنالیستانو لپاره چې د خپل بیان ازادۍ

---

[۱۱] د مطبوعاتو د ازادۍ نړیوال شاخص، یو کلنی شاخص دی چې د بې پولې خبریالانو لخوا خپرېږي او په ۱۸۰ هېوادونو کې د خبریالانو او رسنیو د ازادۍ کچه سره پرتله کوي. د لاسرسي وړ: https://rsf.org/en/country/afghanistan (د ۲۰۲۴ کال د جون په ۳ کتل شوی دی).

[۱۲] د آزادو مطبوعاتو ایتلاف، «د افغانستان د غړیتوب په هکله د آزادو مطبوعاتو ایتلاف د ګډ مشر څرګندونې» [رسنیزه اعلامیه]، ۱۸ نومبر ۲۰۲۲. د لاسرسي وړ : https://mediafreedomcoalition.org/statements/۲۰۲۲/media-freedom-coalitions-co-chairs-statement-on-the-membership-of-afghanistan/ (د ۲۰۲۴ کال د جون په ۳ کتل شوی دی).

[۱۳] د یوناما د بشر حقونو څانګې له خوا کارول شوې میتودولوژي په هکله، یوناما، «د ۲۰۲۱ کال اګست ۱۵ نه تر ۲۰۲۲ جون ۱۵ پورې په افغانستان کې بشري حقونه»، ۵ مخ وګورئ. د لاسرسي لینک: https://unama.unmissions.org/human-rights-monitoring-and-reporting (د ۲۰۲۴ کال د اپریل په ۱۳ کتل شوی دی).

[۱۴] د ملګرو ملتونو د سرمنشي د راپور پر بنسټ، د ۲۰۲۳ کال د مۍ لومړۍ نېټې څخه تر ۲۰۲۴ کال د اپریل تر ۳۰مې پورې، یوناما او د ملګرو ملتونو نورو ادارو د *برحاله* چارواکو لخوا د افرادو پر خلاف په افغانستان کې له ملګرو ملتونو سره د دوی د همکارۍ له کبله د غچ اخیستنې پېښې مستند کړې دي. «د *برحاله* چارواکو له خوا د ویرې او تخویف رامنځته شوي چاپېریال، د مدني ټولنو فعالانو ، شاهدانو او د بشري حقونو د سرغړونو د قربانیانو سره د یوناما پر ښکیلتیا ننګونې رامنځته کړې. د یوناما سره د بشري حقونو اړوند مسائلو باندې بحث کولو وروسته، مرکه کوونکي په منظم ډول د خپل د خوندیتوب په اړه ویره راپور کوي او د محرمیت غوښتنه کوي.» د ملګرو ملتونو د سرمنشي راپور وګورئ، «د ملګرو ملتونو سره همکاري، د بشري حقونو په برخه کې د دې سازمان استازي او میکانیزمونه» (۲۰ اګست ۲۰۲۴)، A/HRC/٥٧/٦٠، ۱۸ مخ. د لاسرسي وړ: https://documents.un.org/doc/undoc/gen/g٢٤/١٤٠/٧٨/pdf/g٢٤١٤٠٧٨.pdf (د ۲۰۲۴ کال د اکتوبر په ۳ کتل شوی دی).

[۱۵] د بشر حقونو نړیواله اعلامیه (۱۹۴۸) ۱۹ ماده او د مدني او سیاسي حقونو نړیوال میثاق (۱۹۶۶) ۱۹ ماده.

[۱٦]

١. د اقتصادي، ټولنیزو او فرهنګي حقونو نړیوال میثاق (۱۹۶۶)
٢. د مدني او سیاسي حقونو نړیوال میثاق (۱۹۶۶)
٣. د شکنجې او نورو ظالمانه غیر انساني یا سپکاوي ډک چلند یا مجازاتو د منع کنوانسیون (۱۹۸۴)
   أ. د شکنجې د منع کنوانسیون اختیاري پروتوکول (۲۰۰۲)
٤. د ښځو خلاف د هر ډول تبعیض د له منځه وړلو کنوانسیون (۱۹۷۹)
٥. د هر ډول نژادي تبعیض د له منځه وړلو نړیوال کنوانسیون (۱۹۶۵)
٦. د ماشوم د حقونو کنوانسیون (۱۹۸۹)

حق څخه ګټه پورته کوي د خوندي ساتنې میکانیزمونه تطبیق کړي. په دې میکانیزمونو کې د یو داسې مناسب چاپېریال برابرول شامل دي چې هلته د رسنیو سکتور په خوندي او خپلواک ډول کار وکړي او د رسنیو په کارکوونکو د بریدونو عاملین حساب ورکوونکي واوسي.

په داسې حال کې چې د بیان ازادۍ حق قطعي نه دی، یوازې په استثنايي حالاتو کې محدود کېدای شي چې «په قانون کې یې ذکر راغلی وي او اړین وي (الف) د نورو د حقونو یا حیثیت ته درناوي لپاره؛ (ب) د ملي امنیت یا عامه نظم یا د عامې روغتیا او اخلاقي معیارونو د ساتنې لپاره اړین وي».[17] سربېره پر دې، دا محدودیت باید «د اړتیا او تناسب» سختې ازموینې تیرې کړي.[18] هغه قانون چې د محدودیت په اړه صراحت په کې راغلی وي باید په بشپړ دقت سره جوړ شي ترڅو افراد وکولای شي د هغې مطابق خپل چلند تنظیم کړي او قانون باید د عامو خلکو لپاره د لاسرسي وړ وي.[19] محدودیتونه باید د یوه مشروع هدف لپاره «اړین» وي او د «تناسب» له اصل سره مطابقت ولري او د امکان تر بریده مداخله کوونکي نه وي.[20]

## کورنی حقوقي چوکاټ

طالبانو د ۲۰۲۱ کال د اګسټ په ۱۵ نېټه د واک له ترلاسه کولو وروسته د ۲۰۲۱ کال د سپټمبر په ۷ نېټه سرپرسته کابینه او په ملي او ولایتي کچه مهمو اداري بستونو ته خپلې ګمارنې اعلان کړې .[21] دوی همدارنګه د ۲۰۰۴ کال اساسي قانون، چې د بیان ازادۍ حق او نور حقونه یې تضمین کړي و، د ځنډولو اعلان وکړ.[22] د راپورونو له مخې *برحاله* چارواکو همدارنګه د پخواني جمهوریت په چوکاټ کې د ټولو تصویب شوو قوانینو بیاکتنه پیل کړه ترڅو له شریعت سره د یادو قوانینو مطابقت وارزوي.[23] په ورته وخت کې د دوی له واکمنیدو وروسته پر رسنیو د پلي کېدو وړ قانوني چوکاټ په هکله عمومي وضاحت نشته. د راپورونو له مخې د رسنیو د قانون او اطلاعاتو ته د لاسرسي قانون بیاکتنه هم دوام لري، سره له دې چې، د رسنیو او د رسنیو ملاتړي سازمانونو سره په دی پروسه کې مشوره نه ده شوې. د *برحاله* اطلاعاتو او کلتور وزارت ویاند او د مطبوعاتو او نشراتو د څار رئیس د ۲۰۲۲ کال په فبرورۍ میاشت کې وویل چې د رسنیو قانون چې په ۲۰۰۹ کال کې نافذ شوی (په ۲۰۱۵ کال کې تعدیل شوی) لا هم د تطبیق وړ دی.[24] په هر حال، د ۲۰۲۴ کال د اپریل په ۱۲ *برحاله* د عدلیې وزارت تأکید وکړ چې د تېر حکومت قوانین ملغاء شوي دي.[25]

أ. په وسلوالو جګړو کې د ماشومانو د ښکیلیدو په هکله د ماشوم د حقونو کنوانسیون اختیاري پروتوکول (۲۰۰۰)
ب. د ماشومانو د پلورلو، ماشوم د فحشا او ماشوم بربنډوالي په هکله د ماشوم د حقونو کنوانسیون اختیاري پروتوکول (۲۰۰۰)
۷. د معلولیت لرونکو اشخاصو د حقونو کنوانسیون (۲۰۰۶)

[17] د مدني او سیاسي حقونو نړیوال میثاق، ۱۹ ماده (۳ بند).

[18] د بشري حقونو کمېټه، ۳۴ شمېره عمومي نظر، ۱۹ماده: د نظر او بیان آزادي، CCPR/C/GC/٣٤، ۲۲ پرګراف.

[19] CCPR/C/GC/٣٤، ۲۵پراګراف.

[20] CCPR/C/GC/٣٤، ۳۳ او ۳۴پراګرافونه.

[21] اسوشیټیډ پریس، «طالبان له خپلو پخوانیو ساتونکو څخه چې ټول نارینه دي، افغان حکومت جوړوي»، ۸ سپټمبر ۲۰۲۱. د لاسرسي وړ: https://apnews.com/article/middle-east-pakistan-afghanistan-arrests-islamabad-d٥٠b١b٤٩٠d٢٧d٣٢eb٢٠cc١١b٧٧c١٢c٨٧ (د ۲۰۲۴ کال د جون په ۳ کتل شوی دی).

[22] د ۲۰۲۳ کال د حساب ورکوونې غونډې پر مهال *برحاله* د عدلیې وزیر وویل چې ټول هغه پخواني اساسي قوانین چې له شریعت سره یې مطابقت نه درلود، د منلو وړ نه دي. طلوع نیوز [@TOLOnews]، ایکس پاڼه (مخکنی ټویټر)، ۱۶اګست ۲۰۲۳، د ماسپښین ۲:۳۶ بجې. د لاسرسي وړ: https://twitter.com/TOLOnews/status/١٦٩١٧٥٣١٦٥٥٨٤٩٩٨٦٦٥ (د ۲۰۲۴ کال د جون په ۳ کتل شوی دی). د *برحاله* چارواکو ویاند د رسنیو سره د مرکې په ترڅ کې وویل چې د اساسي قانون پر جوړولو کار روان دی. طلوع نیوز، «مجاهد: د اساسي قانون پر جوړولو کار روان دی»، ۲۵ اپریل ۲۰۲۳. د لاسرسي وړ: https://tolonews.com/afghanistan-١٨٣١٠٢ (د ۲۰۲۴ کال د جون په ۳ کتل شوی دی).

[23] ذبیح الله مجاهد، د *برحاله* چارواکو ویاند [@Zabehullah_M٣٣]، ایکس پاڼه (مخکنی ټویټر)، ۱۳ اکتوبر ۲۰۲۲، د ماښام ۷:۴۰ بجې. د لاسرسي وړ: https://twitter.com/Zabehulah_M٣٣/status/١٥٨٠٥٧٦٧١٨٦٩١٠٨٦٣٣٩ (پښتو) (د ۲۰۲۴ کال د جون په ۳ کتل شوی دی).

[24] بې پولې خبریالان، «حقوقي چوکاټ: افغانستان». د لاسرسي وړ: https://rsf.org/en/country/afghanistan (د ۲۰۲۴ کال د جون په ۳ کتل شوی دی). همدارنګه د افغان ژورنالستانو د خوندیتوب کمېټه، «د افغانستان د ټولیزو رسنیو قانون لا هم د پلي کېدو وړ دی»، ۲ فبروري ۲۰۲۲. د لاسرسي وړ: https://safety-committee.org/٣٩٦/Mass+Media+Law+of+Afghanistan+is+Still+Enforceable (د ۲۰۲۴ کال د جون په ۳ کتل شوی دی).

[25] طلوع نیوز، «د اسلامي امارت مشرتابه اووه نوي قوانین تصویب کړل»، ۱۲ اپریل ۲۰۲۴. د لاسرسي وړ: https://tolonews.com/afghanistan-١٨٨٢٧١#:~:text=The%٢٠Islamic%٢٠Emirate%٢٧s%٢٠leader%٢٠has,laws%٢٠based%٢٠on%٢٠Islamic%٢٠Sharia. (د ۲۰۲۴ کال د جون په ۳ کتل شوی دی).

## د *برحاله* چارواکو تر حاکمیت لاندې رسنیز بنسټونه

### *برحاله وزارتونه*

سره له دې چې *برحاله* د اطلاعاتو او کلتور وزارت په افغانستان کې د رسنیزو ستونزو د حل اصلي اداره ده، په رسنیزو چارو کې یو شمېر نورې ادارې هم شاملې دي. د ۲۰۲۲ کال په ډسمبر میاشت کې اطلاعاتو ته د لاسرسي خپلواک کمیسیون د *برحاله* اطلاعاتو او کلتور وزارت سره مدغم شو.[۲۶] همدارنګه *برحاله* د استخباراتو عمومي ریاست او *برحاله* د امر بالمعروف او نهی عن المنکر وزارت هم د رسنیو اړوند موضوعاتو کې ښکیل دي: *برحاله* د استخباراتو عمومي ریاست د نیولو او توقیف کولو چارې ترسره کوي؛ *برحاله* امر بالمعروف او نهی عن المنکر وزارت د رسنیو په ورځنیو چارو کې اخلاقي مسایلو د څارنې اړوند اصول پلي کوي لکه، ظاهري شکل، په کار ځای کې د ښځو او سړیو جلا کول او له ۷۸ کیلومتره څخه زیات واټن سفر پر مهال له ښځې سره د محرم شتون. د ۲۰۲۴ کال د اګسټ په ۲۱ مه د امربالمعروف او نهي عن المنکر قانون په رسمي جریده کې خپور شو.[۲۷] د دی قانون ۱۷ مه ماده *برحاله* د امربالمعروف او نهي عن المنکر وزارت محتسبینو ته واک ورکوي تر څو ډاډ ترلاسه کړي چې د خپرونو یا عامه اطلاعاتو محتوا د شریعت سره، د *برحاله* چارواکو د تفسیر له مخې، په ټکر کې نه ده، د مسلمانانو سپکاوی نه کوي او د ژوندیو موجوداتو انځورونه نه لري.

*برحاله* د اطلاعاتو او کلتور وزارت د ۲۰۲۳ کال د اپریل په ۲ مه یوه ټویټ کې غوښتنه وکړه چې نورې *برحاله* ادارې باید د رسنیو په چارو کې مداخله ونکړي او یاد *برحاله* وزارت باید د دغه ډول موضوعاتو لپاره یواځینۍ مسؤله اداره وګڼل شي.[۲۸] د ۲۰۲۴ کال د مارچ په ۲۷ د *برحاله* یاد وزارت مرستیال هم ورته خبره وکړه او ویې ویل چې د رسنیو د سرغړونو اړوند یواځې *برحاله* د اطلاعاتو او کلتور وزارت صلاحیت لري چې په دغه ډول مسایلو کې مداخله وکړي، او نور ارګانونه باید پکې مستقیمه مداخله ونکړي.[۲۹]

### *د رسنیزو سرغړونو د څېړنو کمیسیون*

د رسنیزو سرغړونو د څېړنو کمیسیون چې د رسنیو قانون کې یې ذکر راغلی دی، د طالبانو تر واکمنیدو د مخه یې شتون درلود او دنده یې د رسنیو اړوند شکایتونو او سرغړونو څېړل و.[۳۰] واک ته د طالبانو له رسېدو وروسته د ۲۰۲۲ کال د اګست په ۲۳ نېټه *برحاله* د اطلاعاتو او کلتور وزارت د رسنیزو سرغړونو د څېړنو کمیسیون لومړنۍ غونډه راوبلله.[۳۱] په لویه کچه *برحاله* چارواکي، د *برحاله* استخباراتو عمومي ریاست او *برحاله* د امر بالمعروف او نهی عن المنکر وزارت په ګډون، او همدارنګه د رسنیو د ملاتړ سازمانونو دوه استازي او یو تن له اکاډمیکې ټولنې څخه، د یاد کمیسیون غړیتوب لري. د رسنیزو سرغړونو د څېړنو

---

[۲۶] طلوع نیوز، «آغاز فعالیت ریاست دسترسی به اطلاعات به جای کمیسیون دست‌رسی به اطلاعات»، ۱۵ ډسمبر ۲۰۲۲. د لاسرسي وړ: https://tolonews.com/fa/afghanistan-۱۸۱۱۹۷ (دري) (د ۲۰۲۴ کال د جون په ۳ کتل شوی دی).

[۲۷] د عدلیې وزارت [@MojAfghanistan]، ایکس پاڼه (مخکنی ټویټر)، ۲۱ آګست ۲۰۲۴. د لاسرسي وړ: https://x.com/mojafghanistan/status/۱۸۲٦۲۲۱۸۲۲۸٤٦٥٩۱۰۳٦?s=٤٦ (پښتو) (د ۲۰۲۴ کال د سپتمبر په ۲۲ کتل شوی دی).

[۲۸] د اطلاعاتو او کلتور وزارت [@AfMoic]، ایکس پاڼه (مخکنی ټویټر)، ۲ اپریل ۲۰۲۳، د مازیګر ۴:۰۶ بجې. د لاسرسي وړ: https://twitter.com/AfMoic/status/١٦٤٢٤٩١١٣٧٧٧٩٧٩٣٩٢٠ (پښتو) (د ۲۰۲۴ کال د فبرورۍ په ۱۹ کتل شوی دی. حساب ځنډول شوی دی).

[۲۹] د اطلاعاتو او کلتور وزارت [@AfMoic]، ایکس پاڼه (مخکنی ټویټر)، ۲۷ مارچ ۲۰۲۴، د سهار ۱۱:۰۵ بجې. د لاسرسي وړ: https://twitter.com/AfMoic/status/١٧٧٢٨٧٥٠٢٤٥٤٧٨٤٠٣٢٤ (پښتو) (د ۲۰۲۴ کال د مارچ په ۲۸ کتل شوی دی. حساب ځنډول شوی دی).

[۳۰] ۴۴ ماده، د ټولیزو رسنیو قانون تعدیل او زیاتونه، د ۲۰۲٤ کال د مارچ په ۱۱ خپور شوی دی. رسمي جریده، ګڼه: ۱۱۶۷.

[۳۱] د رسنیزو سرغړونو د څېړنو کمیسیون له بیا ځل جوړېدو وروسته څو ځلې غونډې کړې دي: ۲۳ اګست ۲۰۲۲، ۲۶ سپتمبر ۲۰۲۲، ۱۲ اکتوبر ۲۰۲۲، ۲۲ جنوري ۲۰۲۳، ۱۲ اګست ۲۰۲۳، ۱۹ سپتمبر ۲۰۲۳، ۲۴ جنوري ۲۰۲۴، ۵ مارچ ۲۰۲۴، ۸ می ۲۰۲۴، ۲۱ جولای ۲۰۲۴، او ۲۵ سپتمبر ۲۰۲۴.

کمیسیون کې د ښځو استازې غړیتوب نه لري. *برحاله* د اطلاعاتو او کلتور وزارت مرستیال د ۲۰۲۲ کال د اکتوبر په ۲۹ نېټه د رسنیو سره د مرکې پر مهال وویل چې د رسنیزو سرغړونو د څېړنو کمیسیون کې د ښځو استازو ته اړتیا نه لیدل کېږي.[۳۲]

د ۲۰۲۳ کال د اگست ۱۲ نېټې په غونډه کې د رسنیزو سرغړونو د څېړنو کمیسیون د غړو په شمېر کې زیاتوالی راغی او اوس د *برحاله* چارواکو د شپږو غړو سربېره، د رسنیو ملاتړ سازمانونو څلور استازي، د رسنیو درې استازي او یو تن له اکاډمیکې ټولنې څخه د یاد کمیسیون غړیتوب لري. د رسنیزو سرغړونو د څېړنو کمیسیون د رسنیو د استازو او *برحاله* چارواکو ترمنځ په بېلابېلو رسنیزو مسایلو، د رسنیو د فعالیت ځنډولو او د توقیف شوو ژورنالستانو د قضیو په گډون، د بحث د یو پلېټفورم په توگه کار کوي. په داسې حال کې چې د رسنیزو سرغړونو د څېړنو کمیسیون اغېز لا هم روښانه نه دی، د یو شمېر خبریالانو قضیې د رسنیزو سرغړونو د څېړنو کمیسیون په غونډو کې تر بحث لاندې نیول شوې او یاد خبریالان وروسته له توقیف څخه ازاد شوي دي.[۳۳]

## *ولایتي کمېټې*

د ۲۰۲۳ کال له مې میاشتې راپدېخوا *برحاله* د اطلاعاتو او کلتور ریاستونو په لږ تر لږه دولسو ولایتونو کې د رسنیو د کړنو د څار په موخه د ولایت په کچه، د کمېټو پر جوړولو اقدام وکړ.[۳۴] په ولایتونو کې د دغو کمېټو جوړښت توپیر کوي، خو  عمدتاً یادې کمېټې *برحاله* د ولایتونو د استخباراتو ریاستونو او *برحاله* د امر بالمعروف او نهی عن المنکر ریاستونو څخه تشکیل شوي دي. دا ولایتي کمېټې د رسنیو پر څار سربېره د رسنیو خلاف کړنو په تړاو هم پرېکړې کړې. د بېلگې په توگه، د ۲۰۲۳ کال د اگسټ په لومړۍ نېټه د ننگرهار ولایت، جلال اباد ښار کې د رسنیو ولایتي کمېټې د پرېکړې پر بنسټ د همیشه بهار راډیو ټلویزیون فعالیت وروسته له هغې د ۲۰ ورځو لپاره وځنډول شو چې د ژورنالیزم د ښځو او نارینه وو مختلط ورکشاپ په لاره اچولو تور پرې ولگېد.

## *د رسنیو ملاتړ*

*برحاله* چارواکو په بېلابېلو مناسباتو کې په رسمي توگه د رسنیو د ملاتړ خبره تکرار کړې ده. مالي ستونزو سره د رسنیو مخ کېدو ته په پام سره *برحاله* چارواکو هم له دوی سره د مرستې په موخه مالي هڅونې ترسره کړې دي. د بېلگې په توگه، د ۲۰۲۳ کال د جنورۍ په ۱۶ نېټه *برحاله* د اطلاعاتو او کلتور وزارت اعلان وکړ چې رسنیو ته دې کاله وخت ورکوي ترڅو خپل پاتې مالیات ورکړي او مالیاتي جریمې یې معاف کړې.[۳۵] په هر صورت، د سخت اقتصادي وضعیت له امله چې رسنۍ ورسره مخ دي، د مثال په ډول، د ۲۰۲۴ کال د اگسټ په میاشت کې ننگرهار ولایت کې لږ تر لږه ۱۶ رسنیو خپل جوازونه له لاسه ورکړل ځکه چې د پاتې فیسونو ورکولو توان یې نه درلود.

همدارنگه د ۲۰۲۳ کال د مې په ۳ نېټه په لږ تر لږه ۱۱ ولایتونو کې *برحاله* د اطلاعاتو او کلتور ریاستونو د مطبوعاتو د ازادۍ نړیوالې ورځې په مناسبت غونډې جوړې کړې، چې د رسنیو حقونو د ساتلو او اطلاعاتو ته د لاسرسي پر ژمنتیا یې بیا ټینگار وکړ.

---

[۳۲] مخکې په دې کمیسیون کې د ښځو چارو وزارت او د افغانستان د بشر حقونو خپلواک کمیسیون په استازولۍ دوه ښځینه غړې وې. اوس دا دوه اداری د *برحاله* چارواکو په اداري جوړښت کې شتون نه لري. همدارنگه خامه پریس«حذف زنان از رسانه‌ها؛ نماینده زن در کمیسیون رسیدگی به تخطی‌های رسانه‌ای برکنار شد»، ۲۹ اکتوبر  ۲۰۲۲. د لاسرسي وړ: https://www.khaama.com/persian/archives/۱۰۵۲۶۹ (دري) (د ۲۰۲۴ کال د جون په ۳ کتل شوی دی).

[۳۳] د بېلگې په توگه، د ۲۰۲۲ کال د سپټمبر په ۲۷ د رسنیزو سرغړونو د څېړنو کمیسیون د غونډې پر مهال، د افغان ژورنالستانو د خوندیتوب کمېټې د عبدالحنان محمدي او میرزا حسني د خوشې کېدو غوښتنه وکړه. چې وروسته دوی دواړه خوشې شول – عبدالحنان محمدي د ۲۰۲۲ کال د سپټمبر په ۳۰ او میرزا حسني د ۲۰۲۲ کال د اکتوبر په ۹ خوشې شول. د افغان ژورنالستانو د خوندیتوب کمېټې ته مراجعه وکړئ، «د افغان ژورنالستانو د خوندیتوب کمیټه د عبدالحنان محمدي د خوشې کېدو هرکلی کوي» [رسنیزه اعلامیه]، ۳۰ سپټمبر ۲۰۲۲. د لاسرسي وړ: https://safety-committee.org/٤٦٢/ajsc-welcomes-the-release-of-journalist-abdul-hanan-mohammadi (د ۲۰۲۴ کال د جون په ۳ کتل شوی دی).

[۳۴] په دې کې د بامیان، فراه، فاریاب، خوست، کندز، لوگر، میدان وردگ، ننگرهار، نیمروز، پکتیا، پروان او زابل ولایتونه شامل دي.

[۳۵] عبدالحق حماد، [AbdulHaqHammad۲@]، ایکس پاڼه (مخکنی ټویټر)، ۱۶ جنوري ۲۰۲۳، د سهار ۱۰:۱۱ بجې. د لاسرسي وړ: https://twitter.com/AbdulHaqHammad۲/status/١٦١٤٨٦٠٤٨٨٠١٩٤٣٥٦٠ (پښتو) (د ۲۰۲۴ کال د جون په ۳ کتل شوی دی).

د ۲۰۲۳ کال د ډسمبر په ۲۰ نېټه د *برحاله* چارواکو ویاند، ذبیح الله مجاهد د یوې مرکې په ترځ کې اعلان وکړ چې د افغانستان ټولې رسنۍ په ازاده توګه فعالیت کوي او په هېواد کې له هیڅ کوم خبریال سره بد چلند ندی شوی.[٣٦] د ۲۰۲۴ کال د جنوری په ۱۱ نېټه *برحاله* د کورنیو چارو وزیر، سراج الدین حقاني د یو سیمینار پر مهال وویل چې د *برحاله* چارواکو ټول ویاندویان باید پر وخت له رسنیو سره معلومات شریک کړي.[٣٧] *برحاله* د اطلاعاتو او کلتور وزارت د ۲۰۲۴ کال د مارچ په ۱۹ نېټه د خبریالانو د ملي ورځې په مناسبت په افغانستان کې د خبریالانو ستاینه وکړه.[٣٨] خو سره له دې، د *برحاله* چارواکو کړنې په مکرر ډول له دغه ډول عامو رسمي اعلانونو سره ټوپیر لري.

## د معلوماتو د لټولو، ترلاسه کولو او شریکولو حق

### *د رسنیو سانسورول او ځان- سانسورول*

د ازادو، بې سانسوره او بې له خنډونو مطبوعاتو یا نورو رسنیو درلودل د هرې ټولنې لپاره اړین دی تر څو د بیان او نظر ازادي او نور بشري حقونو څخه برخمن کیدل، تضمین شي.[٣٩] د ۲۰۲۱ کال د اګست له ۱۵ راپدېخوا *برحاله* چارواکو رسنیو ته یو لړ لارښوونې کړې دي چې د رسنیو په محتویاتو کې د پام وړ لاسوهنه ده او په رسنیو د غیرضروری اغیز او د سانسور معادل ګڼل کیږي.

د *برحاله* چارواکو «د حکومت د رسنیو او معلوماتو مرکز» د ۲۰۲۱ کال د سپټمبر په ۱۹ نېټه رسنیو ته د ۱۱ مهمو ټکو لارښود صادر کړ او پکې یې د هغو محتویاتو خپرول منع کړل چې له اسلام او شریعت سره په ټکر کې ګڼل کیږي او یا په عامه افکارو باندې منفي اغېزه ولري.[٤٠] په عمل کې له خبریالانو غوښتل کېږي چې د خبري راپورونو له خپرولو مخکې *برحاله* د اطلاعاتو او کلتور ریاست تائیدي ترلاسه کړي.

---

[٣٦] د افغانستان ملي راډیو تلویزیون، [rtaradio١@]، ایکس پاڼه (مخکنی ټویټر)، ۲۰ ډسمبر ۲۰۲۳، د ماسپښین ٣:٠٨ بجې. د لاسرسي وړ: https://twitter.com/rtaradio١/status/١٧٣٧٤٢٢٣٢٤٢٨٩٢٢٥١٤٨ (پښتو) (د ۲۰۲۴ کال د جون په ۳ کتل شوی دی).

[٣٧] باختر خبري اژانس، [bnapashto@]، ایکس پاڼه (مخکنی ټویټر)، ۱۱ جنوري ۲۰۲۴، د ماښام ٨:٥٢ بجې. د لاسرسي وړ: https://twitter.com/bnapashto/status/١٧٤٥٠٤٨١٢٦٩١٢١٦١٤١٤٧ (پښتو) (د ۲۰۲۴ کال د جون په ۳ کتل شوی دی).

[٣٨] باختر خبري اژانس، «اعلامیه‌ای وزارت اطلاعات و فرهنگ به مناسبت روز جهانی آزادی مطبوعات و خبرنگاران»، ۱۸ مارچ ۲۰۲۴. د لاسرسي وړ: https://www.bakhtarnews.af/dr/%D٨٪A٧٪D٨٪B٩٪D٩٪٨٤٪D٨٪A٧٪D٩٪٨٥٪DB%٨C%D٩٪٨٧٪D٨٪A٧٪DB%٨C-%D٩٪٨٨٪D٨٪B٢٪D٨٪A٧٪D٨٪B١٪D٨٪AA-%D٨٪A٧٪D٨٪B٧٪D٩٪٨٤٪D٨٪A٧٪D٨٪B٩٪D٨٪A٧٪D٨٪AA-%D٩٪٨٨-%D٩٪٨١٪D٨٪B١٪D٩٪٨٧٪D٩٪٨٦٪DA%AF-%D٨٪A٨٪D٩٪٨٧-%D٩٪٨٥/ (دري) (د ۲۰۲۴ کال د جون په ۳ کتل شوی دی).

[٣٩] د بشرحقونو کمیټه، CCPR/C/GC/٣٤، ۱۳ پرګراف.

[٤٠] د خبریالانو نړیوال فدراسیون، «افغانستان: د رسنیو د لا ځپلو لپاره جدي رسنیز اصول وټاکل شول»، ۲۸ سپټمبر ۲۰۲۱. د لاسرسي وړ: https://www.ifj.org/media-centre/news/detail/category/press-releases/article/afghanistan-draconian-media-rules-set-to-further-strangle-media (د ۲۰۲۴ کال د جون په ۳ کتل شوی دی). د ۱۱ ماده ایز لارښود یو نقل دلته د لاسرسي وړ دی: https://didpress.com/%D٩٪٨٨٪D٨٪B٦٪D٨٪B٩-%D٩٪٨٥٪D٩٪٨٢٪D٨٪B١٪D٨٪B١٪D٨٪A٧٪D٨٪AA-%D٨٪AC%D٨٪AF%DB%٨C%D٨٪AF-%D٨٪A٨٪D٨٪B١٪D٨٪A٧٪DB%٨C-%D٨٪B١٪D٨٪B٣٪D٨٪A٧٪D٩٪٨٦٪D٩٪٨٧٪E٢٪٨٠٪٨C%D٩٪٨٧٪D٨٪A٧-%D٨٪A٧٪D٨٪B٢-%D٨٪B٣٪D٩٪٨٨٪DB%٨C-%D٨٪B٧/ (د ۲۰۲۴ کال د جون په ۳ کتل شوی دی).

### د رسنیو لپاره ۱۱ ماده ایز لارښود

(۱) هغه موضوعات چې د اسلام مبین دین او د شریعت سره په ټکر کې واقع کیږي خپاره نه شي.

(۲) په نشراتي فعالیتونو کې ملي او مطرح شخصیتونو ته د سپکاوي څخه په کلکه ډډه وشي.

(۳) په نشراتي فعالیتونو کې ملي او شخصي حریم ته د سپکاوي څخه په کلکه ډډه وشي.

(۴) رسنۍ او خبریالان باید د خبرونو محتویات تحریف او بدل نه کړي.

(۵) په محتوا کې د لیکوالۍ او ژورنالستیکي اصول دې په بام کې ونیول شي.

(۶) په نشراتي فعالیتونو کې توازن په بام کې ونیول شي. رسنۍ باید په خپلو خپرونو کې اندول وساتي.

(۷) هغه موضوعات چې صحت یې نده معلوم او یا په اړه یې بشپړ معلومات ندی ترلاسه شوي به نشر کې له احتیاط څخه باید کار واخیستل شي.

(۸) هغ موضوعات چې په عامه افکارو بده اغېزه پرېږدي او یا هم د خلکو راوان ته زیان رسوي په نشر کې باید له احتیاط څخه کار واخیستل شي.

(۹) رسنۍ د خبر او گزارش په نشر کې خپله بې طرفي حفظ او هر هغه څه چې واقعیت دي نشر کړي.

(۱۰) د افغانستان اسلامي امارت د اطلاعاتو او رسنیو مرکز تل هڅه کوی تر څو د رسنیو سره د یوې همکارۍ اداري په توګه خبریالانو ته د خبر او گزارش په چمتو کولو کې اسانتیاوې رامنځته کړي. هر خبریال چې غواړي د یوې موضوع به اړه تفصیلي گزارش ترتیب کړي باید د افغانستان اسلامي امارت د اطلاعاتو او رسنیو له مرکز سره همغږي وکړي.

(۱۱) د افغانستان اسلامي امارت د اطلاعاتو او رسنیو مرکز خبریالانو د اسانتیا لپاره یو مشخص لیک ترتیب کړي چې د هغې په رڼا کې خبریالان کولای شي د اړتیا وړ گزارش ترتیب کړي.

د ۲۰۲۴ کال د سپتمبر په ۲، *برحاله* د اطلاعاتو او کلتور وزارت او رسنیو تر منځ ناسته کې، *برحاله* د اطلاعاتو او کلتور وزارت رسنیو ته لارښوونه وکړه چې د سیاسی پروګرامونو ژوندۍ خپرونې ودروي او پر ځای یې باید پروګرامونه د هغو محتویاتو د تصحیح په منظور چې ګواکې حساس دي یا د *برحاله* چارواکو په پالیسیو او پریکړو باندې نیوکې کوي، مخکې له مخکې ثبت کړي. بحث ته راغوښتل کیدونکي اشخاص باید د یو ټاکل شوي لیست څخه چې د *برحاله* چارواکو په توافق جوړ شوی، غوره شي. که چیرې کومه تلویزیوني شبکه وغواړي د لیست څخه بهر شخص مباحثې ته راوبلي نو لومړی باید د *برحاله* چارواکو تائید ترلاسه کړي. د مباحثې عنوان هم باید مخکې له مخکې د *برحاله* اطلاعاتو او کلتور وزارت له لورې تائید شي.

د راپور ورکولو لپاره د دې «سرو کرښو» ټاکل د *برحاله* چارواکو لخوا د رسنیو سره د چلند یوه مرکزي ځانګړتیا ده. دغه «سرې کرښې» د رسنیزو محتویاتو لپاره ممنوعه ساحې تشکیلوي او په پراخه خو غیر رسمي ډول تعریف شوي دي. سرې کرښې، لکه څرنګه چې د *برحاله* چارواکو لخوا منحصراً تعریف شوي دي، هغې محتوا ته ویل کیږي چې د اسلامي قانون، افغان کلتور او ملي ګټو سره په ټکر کې ګڼل کیږي. د دې سرو کرښو تعریف د دوامداره تفسیر تابع دی او د *برحاله* ادارو د بیلابیلو ادارو ترمنځ ښايي توپیر ولري، چې هره یوه یې کیدای شي په کې مداخله وکړي.

په رسنیو کې د یو شمېر منابعو له قوله، د سرغړونو معلوملو لپاره په کړنلارو کې موجوده ابهام او ناڅرګندتیا د دې لامل شوي چې خبریالان د دغه نالیکل شوو اصولو څخه د سرغړونې له وېرې په پراخه توګه ځانونه سانسور کړي. خبریالان د هغو موضوعاتو د راپور ورکولو له کبله هم نیول شوي چې عموماً له «سرو کرښو» څخه تېرېدل نه ګڼل کیدل، د بېلګې په توګه:

- د ۲۰۲۳ کال د جولای په ۳۱ نېټه په بلخ ولایت کې څو تنه خبریالان د لنډ وخت لپاره د *برحاله* پولیسو لخوا توقیف شول او د اورلګیدنې یوې پېښې په هکله یې له راپور ورکولو څخه منع کړل.
- د ۲۰۲۴ کال د فبروري په ۱۰ نېټه په سمنګان ولایت کې *برحاله* د ولایت مقام دفتر یو خبریال په دې تور توقیف کړ چې د مالیې د زیاتوالي له امله د هوټلونو څښتنانو د اعتراض په اړه یې د یو *برحاله* چارواکي څخه د مرکې غوښتنه کړې وه. د *برحاله* چارواکي لخوا د مرکې د غوښتنې ردولو سربېره هم دا خبریال توقیف شو.

لکه څرنګه چې په افغانستان کې سیاسي ګوندونه د *برحاله* چارواکو لخوا منع شوي دي،[41] هغه رسنۍ چې له سیاسي ډلو ټپلو سره د تړاو تور پرې پورې شوی دی، فعالیتونه یې ځنډول شوي دي.

- د ۲۰۲۴ کال د اپریل په ۱۶ نیټه *برحاله* د اطلاعاتو او کلتور وزارت او د رسنیزو سرغړونو د څېړنو کمیسیون پریکړه وکړه چې د ملي او اسلامي ارزښتونو د سرغړونې په تور د بریا او نور ټلویزیونونو فعالیتونه وځنډوي. دغه دوه ټلویزیوني شبکې له سیاسي ګوندونو سره تړاو درلود.
- د ۲۰۲۴ کال د جون په ۷ نیټه *برحاله* د عدلیې وزارت اعلان وکړ چې د تمدن تلویزیون فعالیتونه به د ادعا له مخې له یو سیاسي ګوند سره د تړاو او دا چې ادعا له مخې تعمیر یې د *برحاله* چارواکو اړوند ځمکه باندې موقعیت لري، وځنډول شي.[42]

پورته ذکر شوي محدودیتونه خورا پراخ دي. د دوی موخه د عامه خبرو اترو لپاره د یو لړ مجازو موضوعاتو محدودول او د هغو رسنیو مجازات کول دي چې پر *برحاله* چارواکو نیوکې کوي (یا انتقادي ګڼل کیږي)، لکه د هغو رسنیو د عمومي بندیز قضیه چې د ادعا له مخې سیاسي ګوند سره تړاو لري). په داسې حال کې چې د مدني او سیاسي حقونو د نړیوال میثاق د ۱۹ مادې ۳ بند د نورو د حقونو او حیثیت ساتنه او د ملي امنیت او عامه اخلاقي معیارونو ساتنه د بیان د ازادۍ د محدودولو لپاره د مشروع دلایلو په توګه ګڼي،[43] د دې لارښوونو لاسوهنه او نا انډولتوب د بیان د آزادۍ د محدودولو لپاره د اړینو شرایطو سره په تطابق کې نه دي.[44]

## *د خبریالانو او رسنیو د کارکوونکو خپل سري نیول او توقیف او ګواښونه*

سره له دې چې «سرې کرښې» په رسمي توګه نه دي تعریف شوي، د رسنیو د لارښوونو څخه ګڼل شوې سرغړونه کولی شي د ګواښونو، خپل سرې نیولو او توقیف، بد چلند، محاکمه کولو او بندي کېدو سبب شي. نیونې کیدای شي له څو ساعتونو څخه تر څو میاشتو پورې، پرته له عادلانه اصولو، او همدارنګه د *برحاله* محکمې لخوا محکومیت او زندان وي.

د ۲۰۲۱ کال د اګسټ ۱۵ نېټې څخه تر ۲۰۲۴ سپتمبر میاشتې ۳۰ نېټې پورې د یوناما د بشري حقونو څانګې د بشري حقونو څخه د سرغړونې ۳۳۶ پېښې چې ژورنالستان او د رسنیو کارکوونکي یې اغېزمن کړي، مستند کړې دي – د هغې جملې څخه د خپل سري نیونو او توقیف ۲۵۶ پېښې (۲۴۹سړي او ۷ مېرمنې)، د شکنجې او ناسم چلند ۱۳۰ پېښې (۱۲۲سړي او ۸ مېرمنې) او د ګواښلو او ډارولو ۷۵ پېښې (۶۶ سړي او ۹میرمنې) دي. د راپورونو له مخې، د کارفرمایانو لخوا ځینې وختونه د نیول شوو

---

[41] *برحاله* د عدلیې وزیر د یوې خبري غونډې پر مهال وویل، د سیاسي ګوندونو ریاست تېر کال د عدلیې وزارت له تشکیل څخه لغوه شوی او سیاسي ګوندونه غیر قانوني دي. سرچینه: طلوع نیوز، [TOLOnews@]، ایکس پاڼه (مخکښی ټویټر)، ۳۰ مارچ ۲۰۲۴، د ماسپښین ۳:۱۵ بجې. د لاسرسي وړ: https://twitter.com/TOLOnews/status/۱۷۷٤۰۳٤۳۳۰۷۲۷۰۹٦٥۷۱ (پښتو) (د ۲۰۲۴ کال د جون په ۱۹ کتل شوی دی).

[42] د افغانستان ملي راډیو تلویزیون، [rtadari۱@]، ایکس پاڼه، (مخکښی ټویټر)، ۷ جون ۲۰۲۴، د سهار ۹:۳۶ بجې. د لاسرسي وړ: https://x.com/rtadari۱/status/۱۷۹۸۹٤٤٦۲٦۲۱۰۱٤۰۳٦۰?s=۱۲ (دري) (د ۲۰۲۴ کال د جون په ۱۹ کتل شوی دی). د دې راپور تر خپرېدو پورې، تمدن تلویزیون فعال دی.

[43] CCPR/C/GC/۳٤ ، ۲۹ پرګراف.

[44] CCPR/C/GC/۳٤ ، ۳۴پرګراف.

خبریالانو پر ځای نور خبریالان ټاکل کیږي او وروسته له هغې خپلې دندې له لاسه ورکوي، څکه رسنۍ [دغه خبریالان] د خبریالانو او *برحاله* چارواکو ترمنځ د اړیکو د خرابیدو لامل بولي.

ځینې بیلګې په لاندې ډول دي:

- د ۲۰۲۲ کال د مۍ په ۲۹ نېټه، په کابل ولایت کې د رسنیو څو تنه کارکوونکي چې غوښتل یې د کابل په حاجي یعقوب څلورلارې کې د ښځو مظاهرو ته پوښښ ورکړي، د اووه ساعتونو لپاره توقیف شول.
- د ۲۰۲۲ کال د سپتمبر په ۱۰ نېټه، په پکتیا ولایت کې پنځه خبریالان *برحاله* د استخباراتو عمومي ریاست ته یوړل شول او ټیلیفونونه او رسنیز وسایل یې، په ګردیز کې د انجونو ښوونځیو د بیا پرانیستلو په خاطر د راټولو شوو معترضینو اړوند د انځورونو او ویډیوګانو [اخیستلو] له کبله، وپلټل شول. یاد خبریالان په هماغه ورځ خوشې شول.
- د ۲۰۲۳ کال د اګسټ د ۶ او ۱۹ نېټې ترمنځ، لږ تر لږه اووه خبریالان (له شپږ ولایتونو او یو خبریال له بهر څخه) *برحاله* د استخباراتو عمومي ریاست لخوا ونیو شول. له دوی څخه ځینې یې «ډیاسپورا رسنیو» (هغه رسنۍ چې له افغانستانه بهر خپلو لیدونکو او اورېدونکو ته د افغانستان دننه خپرونې برابروي) ته د معلوماتو د برابرولو په تور یا د *برحاله* چارواکو پر وړاندې د تبلیغ په تور نیول شوي وو، پداسي حال کې چې د نورو خبریالانو پر وړاندې لګول شوي تورونه معلوم نه وو. دا خبریالان له ۶ نه تر ۲۲ ورځې بند تېرولو وروسته خوشې شول.
- د ۲۰۲۳ کال د اکتوبر په ۷ نېټه، په دایکندي ولایت کې *برحاله* د استخباراتو عمومي ریاست د نسیم راډیو درې کارکوونکي د ادعا له مخې د بشردوستانه مرستو په انحراف کې د دایکنډي د والي لاس لرلو په هکله د راپور چمتو کولو په تور ونیول. د ۲۰۲۳ کال د اکتوبر په ۱۷ نېټه، د دریو نیول شوو افرادو له ډلې دوه تنه له کوم تور پرته ازاد شول. د ۲۰۲۳ کال د ډسمبر په ۱۱ نېټه، د دایکندي ابتدائیه محکمې د راډیو رئیس په یو کال بند محکوم کړ، خو نوموړی د ۲۰۲۴ کال د اپریل په ۶ نېټه د کوچني اختر په مناسبت د ذکر شوې مودې د مخه له زندان څخه ازاد شو.

امنیتي پیښې په دوامداره توګه خبریالان ګواښي او د دوی لا دمخه ستونزمن کاري شرایط سختوي. د بېلګې په توګه، د ۲۰۲۳ کال د مارچ په ۱۱ نېټه په بلخ ولایت کې، په مزارشریف ښار کې د تبیان په فرهنګي او مذهبی مرکز کې، د خبریالانو د ورځې د نمانځلو پر مهال چاودېدونکو توکو چاودنه وکړه، چې د شیعه ټولنې غړي یې په نښه کړل. لږ تر لږه یو خبریال ووژل شو او ۱۵ نور ټپیان شول (ټولټال شپږ تنه ووژل شول او ۳۰ تنه ټپیان شول). د عراق او شام اسلامي دولت- خراسان څانګې د دغه برید د مسوولیت ادعا وکړه.

## *د رسنیو په چارو کې لاسوهنه*

د ۲۰۲۱ کال د اګست له ۱۵ نېټې راهیسې، ډیری رسنیو خپل فعالیتونه د بیلابیلو لاملونو، په ګډون د هیواد د عمومي اقتصادي تنزیل او د بسپنه ورکوونکو لخوا د مرستو بندیدو له کبله، بند کړي دي. د انټرنټ او سپوږمکۍ له لارې له هېواده بهر پروګرامونو ته د اسانه لاسرسي ترڅنګ د موسیقۍ او ډرامو پر خپرولو بندیز، د کورنیو رسنیو لیدونکي او د اعلاناتو څخه عواید کم کړي دي. د رسنیو ډیری تجربه لرونکي متخصصین له هیواد څخه وتلي چې د رسنیو په برخه کې د استعداد تشه رامنځته کوي. د *برحاله* چارواکو لخوا لګول شوي محدودیتونه د رسنیو لپاره دمخه ستونزمن چاپیریال لا پسې سختوي.

د ۲۰۲۱ کال د نومبر په ۲۱ نېټه، *برحاله* د امر بالمعروف او نهی عن المنکر وزارت لخوا یو لارښود صادر شو چې له مخې یې په رسنیو کې کار کوونکې ښځینه خبریالانې باید اسلامي *حجاب* واغوندي او مخ پټ کړي. دغه راز د هغو فلمونو پر خپرېدو یې

بندیز ولګاوه چې له شریعت او افغاني ارزښتونو سره په ټکر کې ګڼل کېږي، ښځې يې په فلمونو کې له ښکاره کېدو منع کړې او همدارنګه هغه فیلمونه او ویډیوګانې يې منع کړې چې نارینه پکې خپل بدنونه ښکاره کوي.[٤٥]

له ۲۰۲۲ کال راپدېخوا په بېلابېلو ولایتونو کې له رسنیو سره د لیدنو پر مهال *برحاله* د استخباراتو عمومي ریاست له خوا په شفاهي ډول نورې لارښوونې اعلان شوي دي. په دې لارښوونو کې د بګراونډ موسیقۍ په ګډون د موسیقۍ پر غږولو بندیز شامل دی. نارینه او ښځینه باید په جلا کاري دفترونو کې کار وکړي او د خپرونو نارینه او ښځینه چلوونکي باید په پروګرامونو کې یوځای راښکاره نشي. پرته د ښځو روغتیايي یا دیني مسایلو اړوند خپرونو څخه، ښځې راډیويي پروګرامونو ته د اړیکې نیولو څخه منع دي. هغه ښځې چې په رسنیو کې کار کوي (لکه هغه ښځې چې په نورو ادارو کې کار کوي) باید د کار کولو پرمهال د *حجاب* فرمان رعایت کړي. د دوی *محرم* کولی شي د کار ځای ته ننوځي. هغه پروګرامونو او نظریاتو ته اجازه نشته چې د ملي ګټو خلاف ګڼل کیږي او یا پر *برحاله* چارواکو نیوکې کوي. رسنۍ مکلفې دي چې طالبانو ته د یادولو پر مهال د «اسلامي امارت» اصطلاح وکاروي.

د ۲۰۲۴ کال د فبرورۍ په ۱۷ نېټه، د کندهار په ولایت کې، *برحاله* د کندهار والي یو لیکلی لارښود صادر کړ چې له مخې يې په رسمي او غیر رسمي غونډو کې د ژوندیو موجوداتو انځور اخیستل منع دي. د امربالمعروف او نهي عن المنکر قانون، په کمپیوټر، موبایل او نورو وسایلو کې د ژوندیو موجوداتو د انځور او ویډیو په جوړولو او کتلو باندې په بندیز لګولو سره دغه لارښوونه بیاځلې تائید کړه او د هیواد په کچه يې د پلي کولو وړ وګرځوله. دې قانون همدارنګه موسیقي منکر ګڼلې او منع کړې يې ده.[٤٦]

هغه رسنۍ چې د دې اصولو په رعایت کې پاتې راغلل، فعالیتونه يې وځنډول شول او ځینې يې اړ شول چې خپلې رسنۍ وتړي.

د بېلګې په توګه:

- د ۲۰۲۴ کال د اپریل په ۲۳ نېټه، په خوست ولایت کې درې خبریالان (له درې بیلابیلو راډیويي شبکو څخه) *برحاله* د امر بالمعروف او نهی عن المنکر ریاست ته وغوښتل شول او په خپل سرې توګه د پنځو ورځو لپاره توقیف شول. دوی د موسیقۍ خپرولو او د ژوندۍ راډیويي خپرونو پر مهال د ښځینه اورېدونکو څخه د ټیلیفوني اړیکو په ترلاسه کولو تورن وو.

لارښوونې د ټولنیزو رسنیو پر پلټفورمونو هم پلي کیږي. د ۲۰۲۲ کال د اپریل په ۲۱ نېټه، *برحاله* چارواکو په افغانستان کې پر ټیک ټاک (TikTok) او څو کسیز پابجي (PUBG) لوبې بندیز اعلان کړ.[٤٧] په ۲۰۲۲ کال کې، *برحاله* د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوجۍ وزارت په یوټیوب (YouTube) کې د خپرونو چمتو کوونکو لپاره د جواز ورکولو کړنلاره صادره کړه. د یوټیوب جوړونکي اړ دي چې د دریو کلونو لپاره د جواز ترلاسه کولو لپاره ۴۰۰۰ افغانۍ یا د دې معادل (شاوخوا ۶۱ امریکايي ډالر) ورکړي او ۱۰۰۰۰افغانۍ یا د دې معادل (شاوخوا ۱۵۲ امریکايي ډالر) د ضمانت په توګه ورکړي.

---

[٤٥] د مطبوعاتي کنفرانس په اړه راپور او د لارښوونې یو نقل لپاره د بي بي سي ویبپاڼه وګورئ. «دستورالعمل تازه طالبان زنان را از حضور در فیلم ها و نمایشنامه های تلویزیونی منع کرد»، ۲۱ نومبر ۲۰۲۱، د لاسرسي وړ: https://www.bbc.com/persian/afghanistan-٥٩٣٦٥٨١٨ (دري) (د ۲۰۲۴ کال د جون په ۳ کتل شوی دی).

[٤٦] ۲۲ ماده (۹) او (۱۰) فقره، د امربالمعروف او نهي عن المنکر قانون. د لاسرسي وړ: https://x.com/mojafghanistan/status/١٨٢٦٢٢١٨٢٢٨٤٦٥٩١٠٣٦?s=٤٦ (پشتو) (د ۲۰۲۴ کال د اکتوبر په ۳ کتل شوی دی).

[٤٧] باختر خبري اژانس، [@bnapashto]، ایکس پاڼه (مخکنی ټویټر)، ۲۱ اپریل ۲۰۲۲، د ماسپښین ۱:۰۰ بجې. د لاسرسي وړ: https://twitter.com/bnapashto/status/١٥١٧٠٥٨١١٦٠١٧٤٠١٨٦٥ (پښتو) (د ۲۰۲۴ کال د جون په ۳ کتل شوی دی).

## له افغانستان نه بهر فعالې رسنۍ

د ۲۰۲۱ کال د اګست له ۱۵ وروسته، ځینو افغان رسنیو خپل فعالیتونه له افغانستانه بهر ولېږدول او د افغان لیدونکو او اورېدونکو لپاره رسنیزو پروګرامونو چمتو کولو ته لا هم دوام ورکوي. دا رسنۍ چې په «تبعید کې رسنۍ» یا «ډیاسپورا رسنۍ» په نوم پېژندل کېږي *برحاله* چارواکو د اصولو خلاف فعالیت کوي. دوی نشي کولی په قانوني توګه په افغانستان کې د فعالیت جواز ترلاسه کړي ځکه چې دا رسنۍ له افغانستان څخه بهر اداره کېږي، په داسې حال کې چې د دوی خبریالان په افغانستان کې په پټه فعالیت کوي. *برحاله* د استخباراتو عمومي ریاست خبریالانو ته په بیلابیلو مناسبتونو کې شفاهي خبرداری ورکړی چې «ډیاسورا رسنیو» لپاره کار کول منع دي. په پایله کې، دا رسنۍ په دوامدار ډول د لاسوهنې او ځنډ له ګواښ سره مخ شوي دي. هغه خبریالانو چې «ډیاسپورا رسنیو» لپاره کار کاوه لوړ خطرونه درلودل او په ځانګړې توګه د خپل سري نیولو او توقیف له خطر سره مخ و، ځکه چې د دوی کار او فعالیتونه غیر قانوني ګڼل کېږي. سربېره پر دې، دې ته په پام سره چې رسنۍ په قانوني توګه له افغانستان نه پرته نورو هېوادونو کې ثبت شوي دي، د دوی فعالیت لا هم دوام لري.

د بېلګې په توګه:

- د ۲۰۲۲ کال د اکتوبر په ۳ نېټه، له افغانستانه بهر دوه فعالې خبري رسنۍ – زاویه نیوز[48] او هشت صبح[49] – د af. انټرنیټي څپې د *برحاله* چارواکو لخوا وځنډول شوې. دغو رسنیو د فعالیت د دوام لپاره خپلې ویبپاڼې نورو انټرنټي څپو ته ولېږدولې.
- د ۲۰۲۳ کال د جنورۍ په ۵ نېټه، په بهر کې لس فعالې رسنۍ د ملي ګټو پر ضد د راپورونو په خپرولو تورنې شوې.[50] د دوی د جواز د لغوه کولو لپاره قضايي بهیر پیل شو. دا چې دغه رسنۍ له افغانستان څخه بهر جواز لري، نو لا یې هم فعالیتونه دوام لري. د ۲۰۲۴ کال د مۍ په ۸ مه، د رسنیو د سرغړونو کمیسیون د افغانستان انټرنشنل راډیو او ټلویزیون له مسلکي چلند څخه په سرغړونې تورن کړ او له خبریالانو یې وغوښتل چې له دوی سره له همکارۍ ډډه وکړي.[51] افغانستان انټرنشنل په یوه عام بیان کې څرګنده کړه چې *برحاله* چارواکو د ۲۰۲۴ کال د سپتمبر میاشت په ۵ مه د هغه د سټلایت فریکونسي بنده کړې او دا یې «د مطبوعاتو په آزادۍ نیغ برید» بللی دی.[52]

برسېره پر دې، د راپورونو له مخې *برحاله* چارواکو د نړیوالو رسنیو د بهرنیو خبریالانو کارونو کې مداخله کړې او له نږدې یې تدقیق کړي دي. داسې ویل کېږي چې *برحاله* چارواکو د ځینو څخه غوښتي چې لومړی دې سوژه د کتنې او تائیدۍ په موخه هغوي سره شریکه کړي. په هیواد کې دننه د راپور جوړولو پر مهال، د خبریالانو د امنیت د خوندیتوب په پلمه هغوی د *برحاله* چارواکو له خوا له نږدې څارل شوي دي. ځینو *برحاله* چارواکو بهرنیو خبریالانو ته دا واضح کړې چې په راتلونکې کې د ویزې ترلاسه کول، د *برحاله* چارواکو د «سرو کرښو» په ګډون، د رسنیو د لارښوونو د رعایت پورې تړلې ده. *برحاله* چارواکو په هغو راپورونو باندې نیوکې کړې چې دوی په نامناسب ډول د ښځو او نجونو په زده کړو، د داعش- خراسان د بریدونو پوښښ، په افغانستان کې د وسله والو ډلو شتون لکه القاعده او د پاکستاني طالبانو تحریک، باندې متمرکز بللي دي. همدارنګه *برحاله*

---

[48] زاویه نیوز، [ZawiaNews@]، ایکس پاڼه (مخکنۍ ټویټر)، ۳ اکتوبر ۲۰۲۲، د مازیګر ۴:۲۵ بجې. د لاسرسي وړ: https://twitter.com/ZawiaNews/status/۱۵۷٦۹۰۳۸۲۰٦٤٦۲۸۵۳۱۲ (پښتو) (د ۲۰۲۴ کال د جون په ۳ کتل شوی دی).

[49] هشت صبح، «د طالبانو د مخابراتو وزارت لخوا د دوی د ډومین ځنډولو په اړه د هشت صبح ورځپاڼې اعلامیه»، ۴ اکتوبر ۲۰۲۲. د لاسرسي وړ: https://۸am.media/eng/hasht-e-subh-daily-newspaper-statement-on-domain-suspension-by-the-talibans-ministry-of-telecommunication (د ۲۰۲۴ کال د جون په ۳ کتل شوی دی).

[50] لس د پام وړ رسنۍ عبارت دي له: هشت صبح ورځپاڼه، صبح کابل ورځپاڼه، اطلاعات روز ورځپاڼه، آماج نیوز ورځپاڼه، افغان خبري آژانس ، رها خبري آژانس، افق خبري آژانس، نیمرخ سایټ، راه مدنیت ورځپاڼه او پیشګو خبري آژانس.

[51] باختر خبري اژانس، [bnapashto@]، ایکس پاڼه (مخکنۍ ټویټر)، ۸ مۍ۲۰۲۴، د ماښام ۷:۴۴ بجې. د لاسرسي وړ: https://x.com/bnapashto/status/۱۷۸۸۲۲۵۹۵٤۸۳۱۱۲۲٦٤۹ (پښتو) (د ۲۰۲۴ کال د جون په ۳ کتل شوی دی).

[52] افغانستان انټرنشنل، «د طالبانو کړنه د سټلایټ فریکونسي بندولو دپاره د مطبوعاتو په آزادۍ برید دی: افغانستان انټرنشنل»، ۱۲ سپتمبر ۲۰۲۴ (ویب سایت). د لاس رسي وړ: https://www.afintl.com/en/202409126098 (د ۲۰۲۴ کال د سپتمبر په ۳۰ کتل شوی دی).

چارواکو د رسنیو راپورونو لپاره یو لړ اصطلاحات ټاکلي دي. د بېلګې په توګه، هغوی د «افغانستان اسلامي امارت» په ویلو ټینګار کوي او د «طالبانو» یا نورو هغو اصطلاحاتو پر کارولو نیوکه کوي، چې پر رسمیت د دوی د نه پېژندنې حالت په ګوته کوي.

په داسې حال کې چې ځینو رسنیو د اعتبار ورکونې او ویزې ترلاسه کولو اوږده پروسه او همدارنګه د ډېرو اداري فیسونو ورکړه یې تجربه کړې، خو نورو بیا دا پروسه ، په ځانګړې ډول د طبیعي پېښو له امله رامنځته کېدونکو ناورینونو په وخت کې لکه په هرات ولایت کې د ۲۰۲۳ کال د زلزلې وروسته او په بغلان ولایت کې د ۲۰۲۴ کال د سیلابونو پر مهال چټکه تعریف کړې ده. ځینې نور بیا وایي چې محدودونکی کاري چاپېریال د افغانستان څخه د نړیوالو رسنیو د پوښښ په چټک کموالي کې مرسته کړې ده، چې وار له مخه له دې اړخه زیانمن دی او لامل یې په نړیواله کچه د کړکیچونو زیاتوالی او د افغانستان په هکله د لیوالتیا کموالی دی.

د *برحاله* چارواکو له خوا په بهرنیو رسنیو کې د مداخلې اړوند ځینې بېلګې په لاندې ډول دي:

- د ۲۰۲۲ کال د ډسمبر په لومړۍ نېټه، *برحاله* د اطلاعاتو او کلتور وزارت اعلان وکړ چې د ادعا له مخې د ژورنالیستیکو اصولو څخه د سرغړونې له امله د امریکا غږ راډیو او د آزادې اروپا/آزادی راډیو نور په افغانستان کې په ایف ایم فریکونسۍ کې د خپرونو اجازه نه لري.[٥٣]
- په ۲۰۲۲ کې، *برحاله* چارواکو افغانستان ته د یو آزاد نړیوال خبریال د راستنیدو مخه ونیوله.[٥٤]

## *اطلاعاتو ته لاسرسی*

د ۲۰۲۴ کال د سپتمبر په ۲۸مه، د اطلاعاتو ته د عامه لاسرسي د نړیوالې ورځې په مناسبت، *برحاله* د اطلاعاتو او کلتو وزارت د نشراتي چارو معین بیاځلې د *برحاله* ویاندویانو پر دنده تأکید وکړ چې ډاډ تر لاسه کړي چې خلک پر وخت او مؤثقو اطلاعاتو او معلوماتو ته لاسرسی لري.[٥٥] د ۲۰۲۱ کال د اګست له ۱۵راهیسې، *برحاله* چارواکو اطلاعاتو ته د لاسرسي قانون (چې په وروستي ځل په ۲۰۱۸ کې تعدیل شوی) وځنډاوه، چې یاد قانون مخکې په دولتي ادارو کې معلوماتو ته د خلکو د لاسرسي حق تضمینوه. اطلاعاتو ته د لاسرسي پخوانی خپلواک کمیسیون *برحاله* د اطلاعاتو او کلتور وزارت کې مدغم شو او د *برحاله* یاد وزارت پر یو ریاست بدل شوی دی. د رسنیو محدودونکې چاپېریال او اطلاعاتو ته په لاسرسي کې ستونزو، د رسنیو په موثقو راپورونو اغیز ښیندلی او د ناسمو اطلاعاتو لپاره یې فضاء برابره کړې ده.

د یوې سروې له مخې چې د ۲۰۲۳ کال د سپتمبر په میاشت کې د افغانستان د خبریالانو د خبریالانو ملي ټولنې له خوا تر سره شوې، د ټولټال ۴۳۳ خبریالانو له ډلې یوازې ۱٪ یې په افغانستان کې معلوماتو ته لاسرسی ښه ارزولی دی.[٥٦] *برحاله* چارواکو په وزارتونو او ولایتي ریاستونو کې د ویاندویانو د ټاکلو او د رسنیو کارکونکو ته د پېژندنې کارتونو د وېش لپاره اقدامات ترسره کړي دي. د دې اقداماتو په پایله کې، په ځینو ولایتونو کې خبریالانو اطلاعاتو ته په لاسرسي کې د تدریجي ښه والي خبر ورکړی دی. له دې سره

[٥٣] عبدالحق حماد، [@AbdulHaqHammad۲]، ایکس پاڼه (مخکنۍ ټویټر)، ۱ ډسمبر ۲۰۲۲، ماښام ۶:۵۰ بجې. د لاسرسي وړ: https://twitter.com/AbdulHaqHammad۲/status/۱۵۹۸۱٤۰۰٤٥٦۰٤۸۱۸۹٤٤ (پښتو) (د ۲۰۲۴ کال د جون په ۳ کتل شوی دی). د بي بي سي دري [@bbcafghanistan]، ایکس پاڼه (مخکنۍ ټویټر)، ۱ ډسمبر ۲۰۲۲، ماښام ۶:۱۸ بجې مراجعه وکړئ چې په لاندې لینک د لاسرسي وړ ده: https://twitter.com/bbcafghanistan/status/۱۵۹۸۳۱۳۱۲٤۷٤٦۲۱۹٥۲۱ (دري) (د ۲۰۲۴ کال د جون په ۳ کتل شوی دی).

[٥٤] د خبریالانو نړیوال فدراسیون، «افغانستان: طالبان بهرنی خبریال منع او ځوروي» (۱۹ اکتوبر ۲۰۲۲) د لاسرسي وړ: https://www.ifj.org/media-centre/news/detail/category/press-releases/article/afghanistan-taliban-ban-and-harass-foreign-journalist (د ۲۰۲۴ کال د جون په ۳ کتل شوی دی).

[٥٥] برحاله د اطلاعاتو او کلتور وزارت، [@MoICAfghanistan]، ایکس پاڼه (مخکنۍ ټویټر)، ۲۹ سپتمبر ۲۰۲۴، د مازدیګر ۳:۲۲ بجې. د لاس رسي وړ: https://x.com/moicafghanstan/status/1840343964202754061?s=46 د ۲۰۲۴ کال د اکتوبر په ۱ کتل شوی دی).

[٥٦] د افغانستان د خبریالانو ملي ټولنه، «د سیورو رابرسېره کول: په افغانستان کې معلوماتو ته د لاسرسي په لاره کې د خنډونو او پرمختګونو باندې ژور تحلیل،» ۱۰ سپټمبر ۲۰۲۳، د لاسرسي وړ: https://www.ifj.org/fileadmin/user_upload/Survey_ANJU_Afghanistan_۲۸۰۹۲۰۲۳.pdf (د ۲۰۲۴ کال د جون په ۳ کتل شوی دی).

سره، اطلاعاتو ته لاسرسی، په ځانګړي توګه په هغو مسایلو کې چې د *برحاله* چارواکو لپاره حساس ګڼل کېږي، لکه امنيتي پېښې، لاريونونه، زده کړو ته لاسرسی او همدارنګه د ښځو او نجونو نورو بشري حقونو په برخو کې له ننګونو ډک دی.

د بېلګې په توګه:

- د ۲۰۲۲ کال د اکتوبر په ۱۱ نېټه، په خوست ولايت کې رسنۍ له هغو نجونو سره د مرکې، انځور اخيستلو يا فلم اخيستلو څخه منع شوې، چې پوهنتون ته د ورتګ [کانکور] په ازموينو کې يې برخه اخيستې وه.
- د ۲۰۲۴ کال د مارچ په ۲۱ نېټه، د کندهار ولايت په مرکز، کندهار ښار کې د نوي کابل بانک مخې ته د ځانمرګي برید په پايله کې لږ تر لږه ۲۵ کسان ووژل شول او ۵۰ نور ټپيان شول. *برحاله* چارواکو د ځانمرګي برید له عيني شاهدانو او قربانيانو سره د خبريالانو د مرکې کولو مخه ونيوله.

## *د ښځو وضعيت چې رسنيو په سکتور کې کار کوي*

د هغو لاربښوونو سربېره چې د رسنيو پر ټولو کارکونکو پلي کيږي، ښځې په رسنيو کې د لا زياتو محدوديتونو تابع دي چې په افغان ښځو لګول شوي اود دوی د تګ راتګ آزادي او بيان آزادي محدودوي، او په پايله کې يې په کارځای کې د دوی ګډون محدودوي. دا د *حجاب* فرمان رعايت ته هم شامليږي چې له مخې يې ښځې بايد بورقه (*چادري*) يا تور *حجاب* واغوندي چې مخ يې پټ وي.[57] دا د لباس اغوستلو اصول په هغو ښځو هم تطبيق کيږي چې په تلويزيوني خپرونو کې راڅرګندېږي.ښځې اړې دي چې د ۷۸ کيلومترو څخه ډير واټن[58] سفر کې *محرم* (نارينه سرپرست) له دوی سره مل وي، چې دا د ښځينه خبريالانو لپاره په ساحه کې کار کول تقريبا ناممکنوي. په حقيقت کې، په ځينو مواردو کې، ښځې اړ شوي چې له ۷۸ کيلومترو څخه کم واټن کې هم *محرم* ولري.[59] د ۲۰۲۴ کال د اګسټ په ۲۱ مه د امربالمعروف او نهي عن المنکر قانون د خپريدو راپديخوا موټر چلوونکي هغه ښځې چې محرم ورسره نه وي، په خپلو موټرو کې نه لېږدوي.[60] آن تر دې چې د سفر په لنډ واټن کې د ښځو د تګ راتګ آزادي محدودوي.

د رسنيو په سکتور کې د ښځينه کارکوونکو لپاره ځانګړي محدوديتونه هم پلي شوي. د ۲۰۲۳ کال په آګسټ کې، هلمند ولايت کې خبريالانو ته د *برحاله* اطلاعاتو او کلتور رياست له خوا په شفاهي ډول لاربښوونه وشوه چې د اعلاناتو په ګډون په ټولو پروګرامونو کې د ښځو د غږونو خپرول منع دي. د امر بالمعروف او نهي عن المنکر قانون له مخې د ښځې غږ محرم ګڼل کيږي او د هغې غږ له کور څخه بهر بايد ستر شي.[61] دا به مالومه شي چې دا مادې به څرنګه پلي کيږي او د رسنيو په سکتور به څه

[57] امر بالمعروف او نهی عن المنکر وزارت [@MOPVPE]، ايکس پاڼه (مخکنی ټويټر)، ۷ می ۲۰۲۲، ماسپښين ۲:۴۳ بجې. د لاسرسي وړ: https://twitter.com/MOPVPE١/status/١٥٢٢٨٨٢٢٩٣٧١٨٨١٨٨١٦?s=٢٠&t=sshqCD٩cwGCRkJbt٨HL٣LQ (پښتو) (د ۲۰۲۴ کال د جون په ۳ کتل شوی دی). د *حجاب* د حکم په هکله د لا زيات وضاحت لپاره چې ښځې اجازه لري هغه ځادرونه چې په کليو کې ترې استفاده کوي واغوندي، د امر بالمعروف او نهی عن المنکر وزارت [@MOPVPE]، ايکس پاڼه (مخکنی ټويټر)، ۱۰ می ۲۰۲۲، ماښام ۷:۱۲. د لاسرسی وړ: https://twitter.com/MOPVPE١/status/١٥٢٤٠٣٧٢٢٢٣٩٩٣٦٩٢١٧?t=oMIxjpN_O-O-WOvYA٠pBxA&s=١٩ (پښتو) (د ۲۰۲۴ کال د جون په ۳ کتل شوی دی). همدارنګه د امربالمعروف او نهي عن المنکر قانون ۱۳ مه ماده وګورئ. د لاس رسي وړ: https://x.com/mojafghanistan/status/١٨٢٦٢٢١٨٢٢٨٤٦٥٩١٠٣٦?s=٤٦ (پښتو) (د ۲۰۲۴ کال د اکتوبر په لومړی نيټه کتل شوی دی).

[58] امر بالمعروف او نهی عن المنکر وزارت [@MOPVPE]، ايکس پاڼه (مخکنی ټويټر)، ۳۱ ډسمبر ۲۰۲۱، مازيګر ۴:۴۵ بجې. د لاسرسي وړ: https://twitter.com/MOPVPE١/status/١٤٧٦٨٨٩٧٦٨٣٥٧١٥٠٧٢٩?s=٢٠&t=٧TuX٤pPt٦OQEvsPvgZDDFA (پښتو) (د ۲۰۲۴ کال د جون په ۳ کتل شوی دی).

[59] د ۷۸ کيلومترو څخه په کم واټن کې د محرم د حکم د تطبيق مثالونو لپاره د يوناما راپور وګورئ «په افغانستان کې د برحاله چارواکو له خوا اخلاقي څارنه: پر بشري حقونو يې اغيزې». د لاسرسي وړ: https://unama.unmissions.org/human-rights-monitoring-and-reporting-٠ (د ۲۰۲۴ کال د سپتمبر په ۲۳ کتل شوی دی).

[60] ۲۰ ماده، د امربالمعروف او نهي عن المنکر قانون. د لاسرسي وړ: https://x.com/mojafghanistan/status/١٨٢٦٢٢١٨٢٢٨٤٦٥٩١٠٣٦?s=٤٦ (د ۲۰۲۴ کال د اکتوبر په لومړی نيټه کتل شوی دی).

[61] ۱۳ (۳)، ۱۳(۸) او ۲۲ (۱۰) مادې، د امربالمعروف او نهي عن المنکر قانون، د لاسرسي وړ: https://x.com/mojafghanistan/status/١٨٢٦٢٢١٨٢٢٨٤٦٥٩١٠٣٦?s=٤٦ (د ۲۰۲۴ کال د اکتوبر په لومړی نيټه کتل شوی دی).

اغیزې ولري. په ځینو ولایتونو کې راډیویي سټېشنونه چې د ښځو له خوا اداره کېږي او ښځینه کارمندانې ورسره کار کوي خپل فعالیت ته دوام ورکوي.

ښځینه خبریالانې معلوماتو ته د لاسرسي په برخه کې زیاتې ستونزې لري. د بېلګې په توګه، د راپور ورکولو سایټونو ته د لاسرسي لپاره، له دوی څخه غوښتل شوي چې *برحاله* د اطلاعاتو او کلتور ریاست لخوا صادر شوی جواز وښيي، او دا یوه ننګوونکې اقدام دی او دا ډول جواز د دوی له نارینه همکارانو څخه تل نه غوښتل کېږي. د راپور پر بنسټ، ځینې *برحاله* چارواکي له یوې ښځې سره له مرکې او خبرو ډډه کړې. *برحاله* چارواکي په خبري کنفرانسونو کې د نارینه خبریالانو د حضور پلوي دي او ښځینه خبریالانې یا خو نه دي رابلل شوي یا کنفرانس ته له ننوتلو منع شوي او یا ترې غوښتنه شوې چې د خونې په وروستۍ برخې کې کېني. د بېلګې په توګه، د ۲۰۲۳ کال د مې په ۳ نېټه، د دایکندي ولایت په نیلي ښار کې *برحاله* چارواکو د مطبوعاتو د ازادۍ نړیواله ورځ ولمانځله او د راپور له مخې ښځینه خبریالانې یادو مراسمو ته نه وې بلل شوې. د ۲۰۲۴ کال د مارچ په ۱۹ نېټه، *برحاله* د پوهنې وزارت خبریالانو ته بلنه ورکړه چې د نوي تعلیمي کال د پرانیستې په مراسمو کې ګډون وکړي. سره له دې، د ادعا له مخې د ځای د کمښت له امله هیڅ ښځه دې غونډې ته نه وه بلل شوې.[٦٢] دا محدودیتونه ښځینه خبریالانې عمدتاً د دفتر دننه دندو پورې محدودوي او په بشپړه توګه د خپلو دندو د سرته رسولو مخه یې نیسي، د راپور پر بنسټ، د ځینو رسنیو خاوندان د کاري ارتیا له امله د ښځو پر ځای د نارینه وو د ګومارلو پلوي دي.

د ۲۰۲۱ کال د اګست له ۱۵ راهیسې، ډېری تجربه لرونکې خبریالان، نارینه او ښځینه دواړه له افغانستان څخه وتلي دي. د ښځو لپاره تر شپږم ټولګي پورته د زده کړو د ځنډولو په اړه *برحاله* د پوهنې وزارت د ۲۰۲۲ کال د ډسمبر د ۲۲ نیټې له فرمان وروسته،[٦٣] ښځې نور نشي کولای د ژورنالیزم په برخه کې لوړې زده کړې وکړي. د ښځو لپاره د محدودو فرصتونو له امله تر څو په ژورنالیزم کې د شرایطو وړ شي، د رسنیو په سکتور کې د تجربه لرونکو ښځو شمیر کم شوی. همدارنګه دا د ښځو او نجونو اړوند موضوعاتو راپور ورکولو باندې هم اغیزه کړې ده. د بېلګې په توګه، د ۲۰۲۳ کال په اپریل کې، د هلمند په ولایت کې *برحاله* د اطلاعاتو او کلتور او *برحاله* د امر بالمعروف او نهی عن المنکر ریاستونو محلي رسنیو ته په شفاهي توګه خبرداری ورکړ چې یوازې ښځینه خبریالانې کولای شي د *حجاب* د اصولو په نظر کې نیولو سره له ښځو او نجونو سره مرکې وکړي. خو سره له دې، هغه مهال په دغه ولایت کې هېڅ ښځینه خبریالې کار نه کاوه.

ښځینه خبریالانې هم د خلکو د ځینو ځانګړو اقشارو تر منځ چې په عامه کچه د ښځو د کار مخالف دي، د دودیز تعصب له امله له ځورونې سره مخ شوی دي. د یوناما د بشري حقونو څانګې هغه قضیې مستند کړي چې په کې ښځینه ژورنالیستانو ناپېژانده تهدیدونکې ټیلیفونکې اړیکې یا لیکلي پیغامونه ترلاسه کړي، یا په فزیکي ډول ځورول شوي او ورته خبرداری ورکړل شوی چې نور کار ونکړي.

[٦٢] بلنلیک د پوهنې وزارت په ویبپاڼه کې خپور شوی او په لاندې سایټ کې شتون لري: https://moe.gov.af/dr/%D8%AF%D8%B9%D9%88%D8%AA-%D9%86%D8%A7%D9%85%D9%87-%D8%B1%D8%B3%D8%A7%D9%86%D9%87-%DB%8C%DB%8C-٠ (د ۲۰۲۴ کال د جون په ۳ کتل شوی دی). همدارنګه د آمو تلویزیون پاڼه، [ @AmuTelevision]، ایکس پاڼه (مخکنی ټویټر)، ۱۹ مارچ ۲۰۲۴، ماښام ۶:۳۸ بجې. د لاسرسی وړ: https://twitter.com/AmuTelevision/status/١٧٧٠٠٨٩٩٨٥٣٤٢٩٠٢٥١١ (د ۲۰۲۴ کال د مارچ په ۲۸ کتل شوی دی).
[٦٣] آزادی راډیو، «د طالبانو تازه حکم؛ له شپږم ټولګي پورته نجونو لپاره ښوونیز کورسونه منع اعلان شول»، ۲۲ ډسمبر ۲۰۲۲، د لاسرسي وړ: https://pa.azadiradio.com/a/٣٢١٨٩٣٨٨.html (پښتو) (د ۲۰۲۴ کال د جون په ۳ کتل شوی دی).

## پایله

د بیان ازادي، د روڼتیا او حساب ورکوونې د اصولو د تحقق لپاره یو اړین شرط دی چې د بشري حقونو د ودې، ساتنې او تحقق لپاره یوه اړینه چاره ده.[٦٤] ازادې رسنۍ په ټولنه کې د بیان له ازادۍ سره مرسته کوي. د مدني او سیاسي حقونو نړیوال میثاق د یوه غړي هیواد په توګه، افغانستان مکلف دی څو ډاډ ترلاسه کړي چې هرڅوک «د هر ډول معلوماتو او نظریاتو د لټولو، ترلاسه کولو او خپرولو» له ازادۍ څخه برخمن دی،[٦٥] او همدارنګه د دې ډاډ ترلاسه کولو لپاره ټول اړین اقدامات وکړي چې رسنۍ باید په خوندي او آزاده توګه کار وکړي.

په داسې حال کې چې *برحاله* چارواکو په پرله پسې ډول د رسنیو د ازاد فعالیت په برخه کې پر خپلو ژمنو ټینګار کړی، د یوناما د بشري حقونو څانګې د ۲۰۲۱ کال د اګست له ۱۵ راهیسې هغه کړنې او پېښې مستند کړي چې د افغانستان د بشري حقونو له مکلفیتونو سره په ټکر کې دي. ازادې رسنۍ هغه رسنۍ دي چې کولای شي له سانسور او خنډ پرته په عامه مسایلو نظر څرګند کړي او عامه افکار آګاه وساتي.[٦٦] د رسنیو د خپرونو په محتوا او د رسنیو داخلي فعالیتونو کې د *برحاله* چارواکو لاسوهنو د رسنیو ازادي کمه کړې ده.

د بیان د ازادۍ حق هغه وخت محدودیدای شي چې قانون یې وړاندوینه کړې وي او اړینه وي.[٦٧] دا ډول محدودیتونه باید له حده زیات نه وي، او محدودیتونه باید له هغه محافظتي فعالیت سره متناسب وي چې د ترلاسه کولو په لټه کې یې دي.[٦٨] عامه بحثونه او مخالف نظرونه حساب ورکوونې ته وده ورکوي او د پالیسۍ په اړه پریکړو کې مرسته کوي. د رسنیو، خپرونکو یا خبریالانو یوازې پر ادارو یا نظام د نیوکو له کبله مجازات کول هیڅکله د بیان د آزادۍ یو اړین محدودیت نه ګڼل کیږي.[٦٩] د *برحاله* چارواکو له خوا د سرغړونو په پېژندلو کې د روڼتیا نشتوالی او خپلسري، او په *برحاله* چارواکو د نیوکه کوونکو ګواښل، په خپلسري ډول نیول او توقیف کول، محاکمه کول او بندي کول، له دغه حق او په ټوله کې د بشري حقونو څخه د برخمن کیدو څخه سرغړونه تشکیلوي.

هر څوک حق لري هغه اطلاعاتو ته لاسرسی ولري چې د دولتي ادارو په واک کې دي او خلک حق لري چې د رسنیو د محصول له پایلو څخه خبر شي.[٧٠] *برحاله* چارواکي مکلف دي چې په فعالانه ډول د خپلو فعالیتونو او د خلکو د لیوالتیا اړوند معلومات په عام ډول شریک کړي. دوی باید د معلوماتو ورکولو څخه د انکار لپاره خپل دلایل وړاندې کړي. په داسې حال کې چې د رپوټونو له مخې د ویاندویانو د ټاکلو او د رسنیو پېژند کارتونو له صادرولو وروسته د معلوماتو په شریکولو کې ښه والی راغلی دی، اطلاعاتو ته لاسرسی په ځانګړې توګه د ښځینه خبریالانو لپاره لا هم له ننګونو ډک دی.

په دې برخه کې، افغانستان مکلف دی چې د جنډر پر بنسټ د توپیر په ګډون، له هر ډول توپیر پرته پخپل قلمرو کې ټولو وګړو ته د بیان د آزادۍ حق تضمین کړي.[٧١] په ښځو باندې لګول شوي بېلابېل محدودیتونه، ښځینه خبریالانې او د رسنیو ښځینه کارکوونکې د دوی د نارینه همکارانو په پرتله د خپلو دندو په بشپړه توګه د ترسره کولو مخه نیسي، چې دا د بشري حقونو په نړیوال قانون کې د ذکر شوي نه تبعیض له اصل سره په ټکر کې دی. همدارنګه دا د ښځو او نجونو اړوند مسایلو او بشري حقونو باندې په راپور ورکولو اغیزه کړې، چې په یو ډول د عامه پالیسی په هکله د پرېکړو اغېزمنتیا راکموي.

---

[٦٤] CCPR/C/GC/۳٤ ، ۳ پرګراف.
[٦٥] د مدني او سیاسي حقونو د نړیوال میثاق د ۱۹ مادې (۲) بند.
[٦٦] CCPR/C/GC/۳٤، ۱۳ پرګراف.
[٦٧] د مدني او سیاسي حقونو د نړیوال میثاق د ۱۹ مادې (۳) بند.
[٦٨] CCPR/C/GC/۳٤ ، ۳٤ پرګراف.
[٦٩] CCPR/C/GC/۳٤ ، ٤۲ پرګراف.
[٧٠] CCPR/C/GC/۳٤، ۱۸پرګراف.
[٧١] د مدني او سیاسي حقونو د نړیوال میثاق ۲ ماده.

## وړاندیزونه

**برحاله چارواکو ته:**

۱. د دې ډاډ ترلاسه کول چې د رسنیو قانون او اطلاعاتو ته د لاسرسي قانون او همدارنګه د افتراء او ناسمو معلوماتو پر وړاندې اقدامات، د بشري حقونو له نړیوالو معیارونو سره چې د بیان د آزادۍ د حق ساتنه کوي مطابقت لري او د رسنیو خپلواک سکتور تضمینوي. کارپوهان، رسنۍ، د رسنیو ملاتړي سازمانونه او نور اړوند ذیدخلې خواوې باید د هغو قوانینو په تسوید کې چې په رسنیو اغیز لري، ویوښتل شي او مشوره ورسره وشي.

۲. د رسنیو خپلواکۍ او د دوی د خپرونو محتوا اغېزمنولو لپاره د ګواښلو، تهدیدولو، خپلسري نیونو او توقیفولو، او همدارنګه د محاکمه کولو او بندي کولو څخه د یوې وسیلې په توګه کار اخیستلو څخه ډډه کول.

۳. د هغو پالیسیو لغوه کول او بدلول چې د بیان ازادي محدودوي او د دې مطابق هغو ته لارښوونه چې خپلواکو رسنیو کې لاسوهنه کوي.

۴. د رسنیو په سکتور کې د ښځو د کار اهمیت په بشپړه توګه منل او رسنیزو راپورونو کې د ښځو او نجونو د نظرونو او وضعیت له منعکس کېدو څخه ډاډ ترلاسه کول. په رسنیو کې د ښځینه خبریالانو او کارکوونکو پر وړاندې د محدودیتونو او تبعیضي اقداماتو لرې کول.

۵. د خبریالانو او رسنیو د کارکونکو د کارونو په ترسره کولو کې د خوندیتوب او امنیت د ښه کولو لپاره د اقداماتو ترسره کول او ډاډ ترلاسه کول چې دوی د غچ اخیستنې یا بریدونو له ویرې پرته اطلاعاتو ته لاسرسی لري.

۶. د *برحاله* چارواکو ترمنځ د بیان ازادۍ په ارزښت، د رسنیو خپلواکۍ او اطلاعاتو ته د لاسرسي په هکله چې د حساب ورکونې او ښې حکومتولۍ کلیدي عناصر دي، د پوهاوي لوړول.

**نړیوالې ټولنې ته:**

۱. د بیان د آزادۍ د اهمیت په هکله د *برحاله* چارواکو سره د مدافعې دوام چې د مدني فضا او عامه بحثونو د پراخولو لپاره مهم دی.

۲. په افغانستان کې د رسنیو له سکتور سره د تخنیکي او مالي ملاتړ برابرول، د امکان تر حده په هغو برخو کې چې په اوسني وضعیت کې خوندي رسنیز چاپېریال تشکیلوي او همدارنګه د خبریالانو د ظرفیت لوړول.

۳. هغو خبریالانو ته د خوندیتوب برابرول چې د خپل کار ترسره کولو پر مهال ګواښل کېږي.

۴. له ښځو ملاتړ کول تر څو د رسنیو سکتور کې کار ته دوام ورکړي. په دې ملاتړ کې کېدای شي مالي مرسته او د ظرفیت لوړونې پروګرامونه شامل وي.

## ضمیمه: نظریات د *برحاله* چارواکو له خوا وړاندې شوي دي[۷۲]

**د افغانستان اسلامي امارت**

**د بهرنیو چارو وزارت**

**د بشري حقونو او د ښځو د نړیوالو چارو ریاست**

**په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندویه مأموریت (یوناما) موضوعي راپور (په افغانستان کې د رسنیو آزادي- نومبر ۲۰۲۴) ته غبرګون**

د افغانستان اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزارت (په افغانستان کې د رسنیو آزادي- نومبر ۲۰۲۴) راپور خاکې په تړاو خپل ځواب په لاندې ډول شریکوي:

د افغانستان اسلامي امارت د دې راپور تر هر اړخیزې او ځیړنې وروسته دا راپور له عیني واقعیتونو لیرې ګڼي او د افغان حکومت له هغو هڅو سره، چې د رسنیو د ملاتړ په موخه ئې ترسره کړي دي، په مغایرت کې د ګڼلو او رد تر څنګ د بیلابیلو موضوعاتو په تړاو داسي یادونه کوي:

**الف- شالید:**

د تیرې ادارې او اوسمهال رسنیو د پرتلنې په تړاو په راپور کې د راغلې پرتلنې په اړه باید ووایو، چې د تیرې ادارې پر مهال اکثره رسنۍ د اشغالګرو ځواکونو لپاره په تبلیغاتو بوختې وې او د افغانستان د خلکو او د روان جنګ په اړه یې هیڅکله هم بې پرې راپورونه نه شواى خپرولاى. نو د هغه مهال د رسنیو وده کومه طبیعی وده نه وه، بلکې د بهرنیو اشغالګرو ځواکونو لخوا د ډیرو مالي امکاناتو په ورکولو سره په انحرافي نشراتو بوختې وې.

د رسنیو د آزادۍ په برخه کې غواړو یادونه وکړو چې یو وخت د بهرني اشغال پر مهال دلته مختلفو چینلونو او رسنیو ته د مالي ملاتړ په بدل کې اجنډاوې ورکول کېدې، موضوعات ورته ټاکل کېدل، حتی پروګرامونه ورته طرح کیدل چې باید عملي یې کړي. د افغانستان اسلامي امارت د افغانانو د ارزښتونو په رڼا کې د مطبوعاتو په چارو کې هیڅکله نه دغسې مداخله کړې او نه یې پدې کچه د رسنیو په چارو کې دخالت کړی دی، رسنۍ خپل پروګرامونه پر مخ بیایئ او په خپلو چارو کې داصولو په رڼا کې د استقلالیت لرونکې دي.

همدارنګه د نړیوالو رسنیو اکثریت غړي په افغانستان کې موجود دي، په منظم ډول ئې له دې ځایه راپورونه لیږلي او په مختلفو ښارونو کې ازاد تګ راتګ لري. د دوی امنیت نیول شوی او هیڅ ډول خطر ورته نه دی متوجه شوی؛ چې دا پخپله یوه لویه لاسته راوړنه ده او د یوناما راپور یې په اړه کوم څه نلري.

**ب- د رسنیو ملاتړ:**

د افغانستان اسلامي امارت اړوندو ادارو د رسنیزو فعالیتونو د تنظیم او له رسنیو د ملاتړ په برخه کې لاندې فعالیتونه ترسره کړي چې د رسنیو او خبریالانو د فعالیتونو د تقویت او ودې سبب ګرځیدلي؛ خو په دې راپور کې نه دي یاد شوي او له پامه غورځول شوي دي:

---

[۷۲] دغه ځواب د *برحاله* چارواکو له خوا په ۱۴ نومبر ۲۰۲۴ نیټه د یوناما د بشر حقونو څانګې ته وړاندې شوی دی.

**۱. د رسنیو د ملاتړ او رسنیزو معلوماتو وړاندې کولو لپاره د حکومت د رسنیو د مرکز کړنې:**

د افغانستان اسلامي امارت د اسلامي اصولو په چوکاټ کې د خبریالانو او د بیان د ازادۍ ملاتړ کوي ترڅو رسنیز فعالیتونه په هېواد کې پیاوړي شي او حقایق ترخلکو ورسیږي.

د دې موخې د تحقق لپاره، د حکومت د اطلاعاتو او رسنیو مرکز په تېرو دریو کلونو کې د امارتي ادارو د یو کلنو لاسته راوړنو د تشریح پروګرامونه ترسره کړل، چې هر کال د شاوخوا ۴۵ امارتي ادارو رهبري پلاویو په خپل فعال ګډون سره، د اړوندو ادارو د هر کال د ترسره شویو کړنو او لاسته راوړنو راپورونه له رسنیو او د رسنیو له لارې له هېوادوالو او نړیوالو سره شریک کړي دي.

د یادو پروګرامونو پایله دا وه، چې د هرې ادارې کلنۍ راپور په منظم ډول منعکس شو؛ د خبریالانو او ر سنیو لاسرسی ریښتینو معلوماتو ته اسانه شو؛ هیوادوال دهرې ادارې له کړنو خبر شول؛ درسنیو او امارتي ادارو تر منځ دتعامل او همکارۍ فضاء پیاوړې او غښتلې شوه او د دې ترڅنګ د رسنیو نشراتي فعالیتونه لا پیاوړي او اغېزناکه شول.

همدارازد امارتي ادارو د کلنیو راپورونو د وړاندې کولو په موخه ۱۲۳ رسنیز کنفرانسونه یوازې دتېرو دریو کلونو په ترڅ کې تنظیم شوي دي.

د حکومت د اطلاعاتو او رسنیو په مرکز کې او د یاد مرکز په همکارۍ په تېرو دریو کلونو کې ۲۴۶ مطبوعاتي کنفرانسونه د ټولو امارتي ادارو لپاره تنظیم شوي دي.

د مرکزي ویاند او د امارتي ادارو د ویاندویانو لپاره په ټولیزه توګه د ۵۱۲ خبري کلیپونو دثبت او نشر زمینه برابره شوې ده.

د نظام په مهمو او اساسي موضوعاتو باندې د حکومت د اطلاعاتو او رسنیو مرکز له لارې ۴۲ ځانګړې مرکې د کورنیو او بهرنیو رسنیو لپاره تنظیم شوي دي.

**۲. د خبریالۍ او رسنیو د فعالیت تقنیني اسناد:**

(د ټولیزو رسنیو قانون او د خصوصي رسنیو د تأسیس د طرزالعمل مقرره) تر کار لاندې ده چې د اسلامي ارزښتونو او افغاني دود مطابق عیار شو ې او د توشیح په موخه د افغانستان د اسلامي امارت رهبرۍ ته استول شوې ده.

۳. د اطلاعاتو او کلتور وزارت له اړونده برخو څخه څلور طرزالعملونه د رسنیو او خبریالانو د فعالیتونو د تقویت په موخه تدوین شوي چې اوس مهال په لاندې ډول عملي دي:

- د ټولیزو رسنیو طرزالعمل؛
- د یوټیوب چینلونو طرزالعمل؛
- د لوحو او اعلاناتي تابلوګانو طرزالعمل؛
- د خبریالانو د کاري فعالیت د کارتونو طرزالعمل؛
- او د کتاب د ارزونې طرزالعمل

چې ټول فعالیتونه یې د رسنیو او همدا راز د اشتهاراتو په برخه کې تدوین شوي او د یادو طرزالعملونو په مطابقت کې په پلازمینه او ولایتونو کې هېوادوالو ته خدمتونه وړاندې کېږي.

**۴. د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت له لورې د خبریالانو او رسنیو مالي او معنوي ملاتړ:**

د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د رسنیزو شکایتونو او سرغړونو د څېړنې کمېسیون لري؛ چې د وزارت د رهبرۍ تر څارنې لاندې د خبریالانو شکایتونو ته د پرېکړو له طریقه رسېدنه کوي.

## ۵. مالي ملاتړ:

- هغو رسنیو چې مالیاتي مقروضیت یې درلود، د معافیت ور ګرځیدلي دي.
- د غږیزو او انځوریزو رسنیو د فریکونسۍ فیس علی السویه په نظر کې نیول شوی دئ او رسنیو ته د هېواد په پلازمینه او ولایتونو کې د پیسو د قسط وار برابرولو تخفیف رامنځ ته شوی دئ.
- د ټول هېواد په کچه هغو رسنیو ته چې اقتصادي ستونزې یې لرلې نقدي مرستې ترسره شوي دي.
- هغه شمېر خبریالان چې د افغانستان د اسلامي امارت د امنیتي ادارو لخوا نیول شوي وو، د اطلاعاتو او کلتور وزارت په وساطت یې ستونزو ته رسېدنه شوې ده.

د افغانستان اسلامي امارت په مستمره توګه هڅه کوي چې په هېواد کې د اسلامي ارزښتونو په مطابقت او د افغانی فرهنګ د هوډ په لرلو سره د رسنیو او خبریالانو ملاتړ وکړي.

د افغان حکومت چارواکو، چې هره ژمنه د رسنیو او خبریالانو په تړاو سپارلې وي، ورته هوډمن دي او د اسلامي اخلاقو او افغاني فرهنګ قاطع ملاتړ به کوي.

### ج- خپل سرې نیونې، بند او ګواښونه:

د راپور په سریزه او اصل متن کې تر ورته سرلیک لاندې د خبریالانو ټولې نیونې «خپل سري» یادې سوي دي؛ په داسي حال کې، چې اسلامي امارت د حکومت په توګه قضائیه څواک لري، قوانین یې سته او اجرائیه څواک یې بشپړ او کافي دئ. د تېرو دریو کلونو په ترڅ کې د یوناما او نورو نړیوالو بنسټونو له خوا د اسلامي امارت د اړوندو ارګانونو یوه نیونه هم قانوني نه ده یاده سوې؛ بلکې خپل سرې بلل شوي دي. په داسي حال کې، چې د امنیتي ارګانونو ټولې نیونې د اسلام د سپیځلي دین د اصولو او د اسلامي امارت د قوانینو له مخې ترسره کېږي. هیڅ شخص پر خپل سر نه دئ نیول شوی او کوم کسان چې رسنیو پوري اړوند دي، د هغوی جرم د نظام پر وړاندي د خلکو راپارول، حکومت بدنومول، ناسم او غلط راپور جوړول، د نظام له دښمنانو سره په رسنیزه برخه کې همکاري او د نظام ضد رسنیو ته اومه توکي برابرول یادولای شو. په دې توګه ویلای شو، چې له جرم او تخطی پرته هیڅ خبریال نه دئ نیول شوئ.

په راپور کې راغلي، چې په تېرو دریو کالو کې ۲۵۶ تنه خبریالان او د رسنیو کارکوونکي نیول شوي؛ چې دا ارقام یوه مبالغه کېدای شي. په دومره ستر شمېر رسنیز فعالان د افغان حکومت له لوري نه دي نیول شوي.

په راپور کې د خبریالانو د امنیت په اړه یادونه شوې او ویل شوي، چې د خبریالانو امنیت خوندي نه دئ. په دې اړه باید وویل شي، چې د خبریالانو په نښه کېدل په دې معنی نه دي، چې د اسلامي امارت امنیتي څواکونه یې د ساتنې هڅه نه کوي. د اسلامي امارت امنیتي او استخباراتي څواکونو تر وروستي بریده د خبریالانو د امنیت د خوندیتابه هڅې کړي دي. که چېري افغان امنیتي څواکونه په دې چاره کې پاته راغلي وي، هیله ده دملګرو ملتونو اداره یې څو بېلګې له بهرنیو چارو وزارت سره شریکې کړي.

ځیني ځایونه د پېښو شمېر او بڼه په دې پوري تړلې ده، چې خپله خبریالانو د ځان لپاره په بهرنیو هیوادونو کې د پناه اخیستلو په موخه په جعلي توګه پلان او رسنیز کړي دي.

د حکومتي ارګانونو له خوا نیونو ته د خپلسري اصطلاح کارول یوه نا اړینه چاره ده. خپل سري نیول یا د کومې ډلې له خوا کېږي او یا هم د کوم شخص له خوا چې قانوني ورتیا ونلري؛ دلته د افغانستان اسلامي امارت نظام او حکومت دئ؛ قوانین لري او د نیولو پروسه یې هم کاملاً د شرعي قوانینو په دننه کې ده.

### د- له افغانستان څخه بهر فعالې رسنۍ:

په راپور کې راغلي، چې په ۲۰۲۳ زېږدیز کال کې ۱۰ افغاني رسنۍ د ملي ګټو پر ضد د راپور په جوړولو تورنې شوي او د افغانستان انټرنېشنل په څېر رسنۍ یې د مثال په توګه راوړي، چې افغان حکومت یې د سټلایټ فریکوینسي بنده کړې وه. په دې کې هیڅ شک نشته، چې دغسې رسنۍ یې بنسټه، له دروا‌غو او تهمتونو ډک راپورونه خپروي؛ د بېلګې په ډول، انټرنېشنل ټلوېزیون په

بلخ کې د یوې ښځې په تړاو، چې د بهرنیانو په لمسون ئې د اسلامي امارت د ځواکونو له لوري د نیونې او پرې د جنسي تېري بې بنسټه ادعا کړې وه، راپور خپور کړی و؛ چې وروسته هغې ښځې په خپل جرم اقرار وکړ.

بې له شکه هغه رسنۍ چې له هیواد څخه بهر د افغانانو لپاره نشرات کوي، باید قانوني وي. کومې رسنۍ چې اوس له بهره کار کوي، ډېری ئې د افغانستان د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت لخوا جواز نلري؛ کله چې جواز نلري غیر مجاز رسنۍ ګڼل کېږي او فعالیت یې ممنوع دی. دا کار یوازې افغانستان نه بلکې ټول هیوادونه کوي.

**هـ- د ښځو وضعیت چې په رسنیز سیکټور کې کار کوي:**

په راپور کې ادعاء شوې، چې د یوناما د بشري حقونو څانګې هغه قضیې مستندې کړې، چې په کښې ښځینه ژورنالیستانو ناپېژانده ګواښوونکې ټیلیفوني اړیکې او پیغامونه تر لاسه کړي یا په فزیکي ډول ځورول شوي او خبرداری ورکړل شوی، چې نور کار ونه کړي؛ په دې تړاو باید ووېل شي، چې د اسلامي امارت له کوم ځرګند ادرس څخه چا ته ګواښ او ګواښوونکې ټیلیفونونه نه دي شوي او که شوي وي، دوی کولای شي، چې په دې اړه امنیتي بنسټونو ته رجوع وکړي او خپل شکایت ثبت کړي.

**و- د رسنیو په چارو کې لاسوهنه:**

په راپور کې له ۲۰۲۲ کال را په دې خوا په بیلابیلو ولایتونو کې له رسنیو سره د حکومتي ادارو د استازو دلیدنو پر مهال په ژبني ډول د لارښوونو ورکولو یادونه شوې، چې د خپرونو په شالید کې د موسیقۍ په ګډون د موسیقۍ پر غږولو بندیز شامل دئ؛ همدا ډول د ښځو او نرو ګډون باید نه وي؛ له دیني او روغتیایي پوښتنو پرته ښځه له رسنیو سره اړیکه نه شي نیولای؛ په رسنیو کې کارکوونکې ښځې باید حجاب واغوندي... په دې تړاو باید ووایو، چې د امر بالمعروف او نهی عن المنکر وزارت مسئولیت لري او داسې توصیې ئې یو له بنسټیزو دندو څخه ګڼل کېږي؛ تر څو د قانون په رڼا کې له منکراتو خلک منع او اړینې سپارښتنې ورته وکړي.

د رسنیو لپاره د ښځو او نارینه د ځای او کاري ساحې جلاوالی، همدا ډول د حجاب موضوع، ورسره د اسلامي شریعت له مخې ممنوعه نشرات ټول د افغانستان د فعلي نظام د قوانینو موضوع ده. که ملګري ملتونه افغانستان ته د یو هېواد په سترګه ګوري او د حکومت قوانین یې د هیواد د قوانینو په توګه پېژني نو سمه خبره ده، او که ملګري ملتونه له سره اسلامي نظام او د هغه قوانین نقد کوي، دا بیا د رسنیو له موضوع څخه پورته او لوړه موضوع ده او په کار ده، چې په دې تړاو بنسټیز پوهاوی رامنځته شي.

په نړۍ کې حاکم نظامونه په اړوندو سیاسي جغرافیو کې هغه سیاستونه او تګلارې عملي کوي، چې د حاکم نظام له بنسټیزو موخو او د اړوند نظام غوښتنه وي. د مخالفت په صورت کې ئې متخلفین په سیاسي جرم محکومېږي. دا چې د سیاسي نظامونو جوړښتونه بیلابیل دي؛ طبیعي ده، چې تګلارې ئې هم بیلې وي؛ ځکه نو وایو، چې د اسلامي نظام غوښتنې زموږ د موخو مرکزي هسته جوړوي. له همدې امله به د افغانستان پر سیاسي جغرافیه باندې، چې د اسلامی نظام فضاء حاکمه ده، یوازې هغه کړنې ترسره کېږي، چې د اسلامي نظام او اسلامي احکامو غوښتنه وي.

پر TikToK او PUBG لوبه باندې د بندیز لګولو پرېکړه له دې امله شوې، چې ټیک ټاک یوه خطرناکه او وژونکې پدیده ده؛ چې د ځوانانو د ژوندانه له اصیل مسیر څخه د اوښتون، اسراف، روغتیایي زیانونو او د وخت د ضیاع سبب ګرځي. په پابجي لوبه کې اسلامي شعائرو ته سپکاوی کېږي، چې مخنیوی ئې شرعاً او قانوناً د اسلامي امارت له مکلفیتونو څخه ګڼل کېږي. د افغانستان اسلامي امارت یو له مهمو موخو څخه په اسلامي روحیه د ځوانانو روزل دي او یادې لوبې د حاکم نظام د مقاصدو په حصول کې یو ځواکمن خنډ بلل کېږي.

**پاي**